په خانانو کښ یو خان خو، ستا په شان دِ بینوا
خلق وائی لیونے دے عجیبه کوی کارونه
سره او سپین دځان ولی چرته کوری زیر کلونه
دشرابو جام په لاس کښ اوږده وائی حدیثونه
کله غواړی په سجدو کښ دَ الله نه شرابونه
تول بے توله شان تلل کړی دمرګی او دَ دُنیا
وائی که ستر کے دمرګ نه وے ژوند به نه لید لوچا
چه نبه روغ وی چرته جمع دے به ناست پکښ حیران وی
خپل غمونونه بے غمه، اوپر دوته پریشان وی

(*) دهشنغر یو کلی اتمانزی دی، چه دخان عبدالغنی خان تاهنوبه دی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په غرمه کښ به یواز ے چرته شروکښ روان وی
د ملا د ذات دښمن د ے، د پیر خوا به وتړه د مان وی
مات تو پک د منطق واخلی نښه ولی پرے د سا
عجیبه ورانے خبرے، مرچکی سره حلوا
ستا په شان د ده زړکے هم د هر خوا رسه خوږ یږی
په وجود ے څرمن نشته په بخرک اور سوزیږی
زړه ے د پک د میوجام د ے. که لږ برقی نو تو یږی
تنبه ے د وینه ے اوږد ے په لږ تاؤ سره لمبه کیږی
ستا د هر تنک سره هنک کی یو ستار د ے بے بها
ته د نوی قندهار ے د ے زور (۱) د ے باشنده
ستا د هر سر سره د پی، یو شا تار ستار د باب د ے
نیم او نیمیار نیم لیونے د ے، مراد شوے شان کلاب د ے
از غی د پیر شو خائشت کم شو. وا ے د ا سے انقلاب د ے
زه طوفان یم سمندر یم، په د څه که څوند حباب د ے
زما خاوره کښ د پیر نور شته، تشه نه لری د اسا
زه غرور، ننګ او سرور یم، سره د نه ګینه م ژړا
ته چه کم رنګ کښ غوپه شے د ے هم هغه رنګ کښ رنګ شی
ته چه مست پیاتن ورشے، د ے کنګروشی په شر شر ګ شی

(۱) د وادی پیښور زور نوم قندهار و ځ ل د ے یاد وئی نا ئی د هان
مطلب قندهار نه، بلکه قندهاری. (مدیر)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته چه غم فریاد شروع کړے . دے بے خوا لکه نهنگ شی
ته چه توره کړے راپورته ، دے یو سر نر توب په جنګ شی
بل دده په شان به کم خاے خان له رودکړے راپیدا
یارانے له دا سے یار ، دا سے بل د زړه آشنا
ستا په زړه کښ چه کوم نور دے ، ما کښ هم هغه خلیږی
ستا د زړه چینه درحم ، دلته رودد ے چه بهیږی
ته چه وینے کم خو بونه ، ز ما ستر کو کښ غریږی
ته چه زانګے په کم تال ، په هغے غنی زنګیږی

بینوا په هشنغر کښ ستایو رورد لته اوسیږی
ببر سے پته ستر کے . خان ته خاندی اوژړیږی
کلیتنګ کله تکور شی ، کله ساز کله ژړا
کډو و د و کښ لړلی ، غیر تو نه فلسفه
د یر څیز و نه ر ب و رکړی چه بنا دیږی پے دنیا
چه څه غواړی هغه نشته ستا په شان دے بینوا (*)

(*) مراد د بینوزے نوی لیکوال او شاعر مرحوم استاد عبدالرؤف بینوا (۱۳۶۳ هـ ش) دے چه بینوزے ته ے پهلم او نثر کی د برخښنی دی . او همغسی (نا ر ا) هم نهونزه دے په علمی کیدو او ادبی کیدو کی ے پهلنه کړی ده ، استاد عبدالرؤف بینوا (خدائے ے وبخښی) تر خو سو ریات مستقل آثار او لیکنی نریدلے مقالے مونږ ته پریښی دی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلوشه

هوش دِ دَ علمونو نه جدا جدا روان شو
خدایږ ولیونیه جوړے سم لیونے کیږے
مرګ کښ د ښکارہ راته جمدون یو جاودان شو
زه وړپورے خاندم دنیا، ته وړته ژړیږے

پلوشه

نن ربابی د خیال دنیا جوړے بدله ده
نوے دِ مضراب دِ نو لاړه کښ غږیږے
هغه دِ رباب هغه پرده خونن ځے شان دبل
دا دګډا تال دِ، یاره پاڅه کړه کډیږے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



نقاب

داچه زه خان لیونے کړم، دا زه تنک شمه د خانه
شیخ بابا ته لکیا دے، مسئلے کئ د عذاب
زه خو دلته په عذاب یم. ددے خپل خو د اواحساس
څکه کله په سجده شم، کله او څکمه (*) شراب
چه بے حسه شم رو کیږم، چه احساس لرم سوزیږم
نه طاقت شته د سکون او نه همت د اضطراب
چه چا پیره نظر او کړم، همه پت او بنکاره زه یم
دا شراب دے ما جور کړے، ما جور کړے دا حراب
مذهب څه دے څورسمونه، مسئلے او منطقونه
او د هغے سوال جواب دے چه ئے نشته دے جواب

(*) د څکم، وچښم.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جانان تش د عاشق مینه ، د خپل زړه وینه څښتل دی
چه د یرو د پاره شو مجنون ، ځان ئې که ځان له کباب
رباب څه د مرګ ورځ او د توت او چه تنه ده
خو چه سوز د آدم راشی هله هنګ وکړی رباب
کله نو کله رنا شی ، کله غم شی او ژړا شی
دا ځیګر د رباب دی ، چه هم جام شی هم شراب
خوا زړه م راته وائی ، دا هله وکی م کو نیږی
چه آخر به څوک او چت کړی د جانان د مخ نقاب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختر

غنی او خور دا سے غم — نه دا رولری نه دم
کل جمان دِ ستر کے ستر کے — نشته ستر کے دضنم
خلق وئی اختر اختر دے — ماته ښکاری محرّم
چار چاپیره ساز او شرنگ دے — ماله سوز ژړا او غم
چه جمدون په کمید وشو — شو هر څیز ور سره کم
د شهوت نه وحشت لاړ — دَ نیکئے سرور شو کم
دَ کناه نه مزه لاړه — پیکه خوله شوه دَ ضنم
نه په بام دلیلئ مست شوم — نه سایه کښ دَ حرم

خلق وائی اختر اختر دے
ماته ښکاری محرم

اختر خو سترکے دوُ دَ دِلبر وی — مسکے مسکے شان پکښ نظر وی
ایمان چه زړه یو پک دَ درنا وی — مړ جاے کعبه وی مړ جاے کوثر وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواږه د شعر همه احساس دی — چې خیکر تش دی تش د اثر دی
حُسن خو مترکو کښ د عاشق دی — رنا د ډوی د روښان دِ لبر دی
رنګین کلونه، شکے صحرا شی — تش د ژوند نو چې د چا سر دی
جمدون یو اور شی تورې بلا شی — چې بے سره ژوند مانه یکر دی
جانان په څنګ کښ خمار په سترګو — د وصال مهر د ښت اختر اختر دی
خونه د لدار هسته او نه خمار هسته — د دا سے ژوند به ښه سفر دی
لاړ بدا شو جور غنی خانه — د خوا ښئے تاو دِ آخر قرار شو

د رنګینئ وار دِ لا ړ لو تیر شو
تړه سامان دِ اوس به سفر دی
زه نه یریږم د سفر و نو
د جمدون هر لمحه سفر دی
خوږ روی م داشوم قسمت خپل
چې یا سباوی یا مانه یکر وی
ځوانی مستی م چې کم خوا لاړه
ور پسے خدایږدهم هاتحُمه
لاړ د عدم وی که د تور تم وی
که تور غمونه که سور سفر وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تپوس کہ جواب

وایا وایا ملاجانہ ژوند تپوس دِ کہ جواب
ژوند وصال دے کہ جنون دے کہ آرام کہ اضطراب
ژوند امام دے کہ کلفام دے کہ ممبر دے کہ محراب
کہ یو مست غوندے جہان کښ رنگین خوب دے دَ سراب
کہ لمحہ د نور کتل دی
دَدے تور تاریک جہانہ
ژوند تپوس دے کہ جواب دے
وایا وایا ملاجانہ

ژوند فرعون دے او غرور دے کہ جنون دے او سرور دے
دَ نمرود دَ زرو تخت دے کہ رنگین مرگ دَ منصور دے
دا حسین مُسکے مُسکے دے کہ یزید مست پہ غرور دے
دا بھار دے، کہ کلاب دے، لبِ پت شو دخزانہ
ژوند تپوس دے کہ جواب دے، وایا وایا ملاجانہ
ژوند یو مست دَ میو جام دے کہ یو مات دَ غم کچکول

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونے مخ د خیام دے که اوښیار مخ د ګلول
یو رنګین باغ د ګلونو که د اورد از غوښپول

که یو تینبته او فرار دے
تبتید ل دی له خپل ځانه
ژوند تپوس دے که جواب دے
وایا وایا ملاجانه

ژوند یو خیشت دے چه خوږیږی که جمال چه خاورے کیږی
داساز خپل مرګ نه کړی سانده (*) که یو اورد چه بلیږی
د دے تلو، مقام، د مه شته که دسا نه سا تبتیږی
منکوتی که د ارت دی څه ډکیږی څه تشیږی

که یو نورد چه خوږیږی
ناخبره د خپل شانه
ژوند تپوس دے که جواب دے
وایا وایا ملاجانه

(*) سانده: د مړی ستاینه .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



تلے مرګ

په لکها کاله اوده وی — یو ساعت له را بیدارشی
څو لکها به نور اوده وی — چه روان د مرګ په لاړشی
شاته تور یو سمندر دے — مخکښ لا تورۀ بلا ده
مینځ کښ یو د شبنم څاڅکے — په غور ځنګ لکه آبشارشی
دَ آدم زره دکتودے — دده تورۀ دریابی ده
دَ آسے تلو دا سے راتلو کښ — دے لږے خوڑشی خمارشی
وُ و پکار چه ساعت ژوندے — په ژړا ژړا تیرولے
که دے د پیر په لیلیٰ مست شی — خو آخر به د مرګ یارشی
نه په تلی مرګ ستومان یم — نه راتلو نکی نه یرینږم
زه به تل د غسے خاندم — که په اوږشی که په دارشی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتے پاتے دقصے شوے — دَدونخ دَ حسا بونو
دغہ شے دَ ملاجان دے — زہ خوستا دَ مینے یار
اوکہ وے چہ سوزم، سوزم — عشق کښ نشتہ انکار ونہ
زہ څہ شیخ مُلا خونہ یم — چہ نہ کار کوم نہ انکار
خودَ سولو دپارہ نہ یم — ساھو څانکہ دشاتوت یم
رانہ جوړکہ یو دنکین — اوا ونکین غونڈے ستار
کہ یو تنک وی کہ زر تنکہ — منبہ پہ سُرکښ بہ غزیزم
یو قطرہ ستا دَ دریاب — یو بنکا وستا دَ خمار
اے زما دستر کو تورہ — دایوہ خو پکښ واورہ
دلتہ سوے یمہ دیر — نورم پریږدہ پہ قلار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمتون

غرمه د اوړی
لکه شپه د ژمی
یو خاموشی
او قلاړے خوږ دے
د کور کور کوکو

او چپ چاپ عالم هو
وخت خپه نیولے

په رکاب سور دے
دُنیا د خپل زړګی ته غوږ نیولے
د مرګ او ژوند حساب کتاب اوری
فضا کښ ګډیو مسکے توب شان دے
لکه په خوب کښ څوک رباب اوری

اوزه یواځے
په خیالونو کښ ډوب

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَخپل ارمان
تلاش کښې کړځمه
یو روک

مجبوره
مسافر

یم روان
په مزکه پروت
په آسمان کړځمه

مادِهم خپل زړګی ته غوږ نیولے
دژوند څه وجه څه ثواب لټوم
دردله اومړک له څه سوب* کومِ
ابد کښې خپل دهوش حباب لټوم
دَ ولے ولے
په دریاب کښې روک
جام کښې شراب
او په شرابو کښې
په سُور کتاب کښې
دجمات دتاخ

(*) سوب: سبب.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مرګ اوژوندله
یوترون ګورم
چپه چپیا
اوخاموشئ
کښې زه
شرنګ دستار
دتال مضمون ګورم
چاپیره رنګ کښې
شنوکمتروکښې
ځان له جواب دخپل جمدون ګورم
زه لیونے یم، لیونے یم، ربنتیا
په میخانه کښې افلاطون ګورم
ځان ته چه ستر کے مې راوارولے
بس
مرګ
اونیش
وګوینمه
زه لیونے یم، لیونے یم ربنتیا

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مرګ په ستړګو کښې جمدون ګورم

غرمه د اوړی

لکه شپه د ژمی

یو خاموشی

یو قلاړے خوردے

چرته کښې لړے

یو بڅړے

د نور

ستورے ؟

که لړے د صحرا اوردے

ماته وروکو

پلوشو

کښې وائی

که غږ د لوئے

په سرئے لار خوشته

څه ؟

که جمدون

یو روک

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساعت دِ

دهوش

یو

ابدی

دَ دہ ، دلدار خوشته

زړکیه ، ځان تکے که ما تکے

څنګه ځان خلاص دهر جنجاله کړے

زړکیه ، اے تکه زړکیه زما

ځان کښ مشغول اوما خوشحاله کړے

خوستانه منم

غرقین مه

سم ، په ربنتیا

لیونے کین مه

داضطراب په تور دریاب کښ زه

اوس سرسری یم بیا دوبین مه

په تودو ویرو کښ ژکین مه

دلته په خپل اوږکښ سوزین مه

په جمدون تورے خاورے کین مه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلو وینو کښ دو بیږ مه
غـرمه د اوړی
لکه شـپه د ژمی
یو خاموشی یو تلاړے خوردے
چرته کښ لرے
یو بحـرِ د نور
ستورے، که لرے د صحرا اوردے

ماته ورځ کو پلوشو کښ وائی
که غږ دِ لوئے په سـرے لار خوشته
څه کـجـلـو یـو کـو عـت سـا دِ د هوش
یو ابدی د ده دلدار خوشته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروان

یو نیم ژوند دک دمستے وی، یو سړو روی چه شرنگیږی
پردے تولے په خپل خاے وی، پاکے شے په سرغږ یږی
هر یو تارے مست بورا وی، چه کلونو کښ بونګیږی
هر یو تال ئے جګت په تول کښ، زیرو بم پکښ ګډیږی
خوشحالے په چور لکونو، په شاډولو پکښ دانګی
یو هوش مست پخپل سړو رکښ، دخمار په تالئے خانګی
یو نیم ژوند خوږ او بے نوره، ګډ په شلو خپګو روان وی
هر قدم ئے یو تیندک وی، تور په غمئے کل جهان وی
هر آوازئے د درد چغه، پخپل اورکښ بند یوان وی
د آرام په ارمان سوے. لکه غږ ته میدان وی
د غمونو سیلا بونو کښ روان یو کنکهړ وی
په جمدون دوزخ کښ پروت، نیم روندے او نیم مړ وی
یو بل ژوند د شمے ژوندوی، لا به مړی لا به سوزیږی
هله نور او رنا راشی، چه په سړے اور بلیږی

(ه) شاه ډوله، یو ډول ملی ځانګړی (ب) خپګو: پښو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ے یو اور وی سوز و ل کړی ، لاس د رحم پے سوزیږی
پل د بښمن د بل غلام وی ، خان سوزی بل ته ځلیږی
نه نور د ده انعام دے ، د قسمت کو تو ور کړے
نه اور د ده جمدون دے ، چه جمدون دے لکولے
وړه قسمه د ژوندون دی ، خو بچی چه د آدم دے
وک په یو خاے کښ لږ لوے دی ، خوک په بل خاے کښ لږ کم دے
د کاروان کښ قتول روان دے ، که پاتے ده دی او که سم دی
وک په چغو خوک مسکی دی ، خوک خار کښ خوک په غم دی
فله یوه روانه ، یوه لاړ ، یوے منزل دے
ټرمخکښ خوک روان دے ، سپین مشال دے او پرے بل دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کیږی

چې په څاڅکی کښې مستی د دریاب راشی
لکه ویر کښې سُرور او رنځ د رباب راشی
صحرا لاړه شی سمندر کړه خندا له
او چینې سره یارے له سراب راشی
لکه غم د خوشحالئے کړه میلمه شی
یا په مرګ قربانید ولاړ شاباب راشی
لکه خوند له دامام د اوږدو ستړکو
په جمات کښې بکل، ساقی، او شراب راشی
لکه اوړه، اور ډکے په نمر مښې شی
او دغه زور او پښتے له حباب راشی
دا زما اوستا یارۍ ډډے عجبه
په شبنم کښې چې طوفان او سیلاب راشی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

راکه ساقی راکه

راکه ساقی راکه، شراب نا اورم پیکاردے
زړه م تورے خاورے باهر تاورانه انکاردے
پریږده چه ئے وچوم، دا زړه نه دیو سزا ده
ساز سرور ئے رُک شو، بس یو تهر بے قراردے
ده به زه گرځولم، مستینو لمه، مستولمه
اوس م وینه څکی، بس تش یو درد دے یوازاردے
هیر ئے کړا شوه، اوس نه تال دے نه شر نکاردے
راکه ساقی، راکه، شراب نا اورم پیکاردے
نشته هغه زور سرور ساقی ستا په شرابو کښ
باغ نه حسن لار، رنګونه کم شوو په کلابو کښ
واچوه سور اور دے جام کښ راکه چه ستی شمه
مست لیونے نه شوم هسے شمار شوم په خرابو کښ
دا د څه جمدون دے چه م هوش پکښ په دار دے
راکه ساقی راکه شراب نا اورم پیکاردے
بهار راغے، بهار لاړه، زماڼ وند سوے کلزار وو
یو تباه تالا کلشن وو، په خپل اور کښ گرفتار وو

(+) نا بنه (ه) باهر، بهر، دباندے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بے کورہ، بے آرامہ، سرگردانہ مسافر وم
نہ زہ یار جانان دَ چاوم، نہ زملچرتہ دِلدار وؤ
جمدون تش دجمدون دردوو، ھغہ سنگلے جانان نہ وؤ
ھر نظر چہ دستر کو، نوے رنگ نوے خمار وؤ
زہ م تورہ اديرہ دہ، دتیارو تاریکو بنار دے
راکہ راکہ ساقی راکہ، شراب نا، اورم پکار دے
یو بے حسہ، دوب قرار دے دَ مرگی سنگلے مکان
کہ ساوڑنی، اورھم وڑنی. دتیارو دغہ جھان
تورو ستر کو کبن کے نشتہ چرتہ یو دَ اوربشر ے
یو بے خودہ چپ قرار دے، دَدہ کور دَلا مکان
نہ دا سوز، نہ دا تالاش شتہ، بے جانانہ فراقونہ
ابدی وصال، وصال دے. مرگ دے دا سے نہ جانان
دَ دہ کور تے تورے لرے دَ بخملونہ پستے دی
تورو لاسو کبن لے جسم پہ غریب سوی انسان
دہ ملک کبن دوب آرام دے، یو بے خوبہ دَ خوب دے
روک جمدون، روک نے احساس شتہ، یا صلیب یا لیونتوب دے
راورہ. راورہ چہ فنا شم، زہ دژوند م بے زار دے
راکہ، راکہ ساقی راکہ، شراب نا. اورم پکار دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیو داسی

په کوکوو ے کوکوشتکے ، تورانئے په تنانه
په چپو چپو مستی به د نسیم چپو راوړه
سحر راغے لکه زیړے ، د خندا اودر نها
غُټے تولوو ے مسکا کښ ، ټن نسیم کښ د نشه

وخت یو بل پراو پوړه کړه ، یوا بله شپه په تلوشوه
چا کړه تیره د چا غیږ کښ ، په چا تیره په سلګو شوه
ملهم تیږ کړه په ناستے ، د رنګونو په جهان کښ
هوش او رنګ به م یو ځا کړل ، جوړول م تصویرونه

د زړه غم به م د خوړ کړه ، د چا خندے په احساس کښ
مړاو مړاو ے پښے نظر شو ، سوی سوی شان رنګونه
که تصویر د لیلیٰ جوړ کړم ، د شیرین که د منصور
د هر یو ستر کو کښ زړه یم ، زما درد ، زما خوږونه

تور او سور د وه رنګه واخلم ، ترچنګیز (1) یا تیمور (2) جوړ کړم
د د وی ستر کو کښ د اقصر ، زما اوږی تو پونه

---

(1) چنګیز خان (۱۱۶۲ ع ـ ۱۲۲۷ ع) (2) تیمور لنګ (۱۳۳۵ ـ ۱۴۰۴ ع)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَدے رنګلیونتوب لورتہ، یو پری راغلہ ګمګینہ
نہ لیلی وہ نہ شیرے وہ، نہ هیر اوہ نہ شیرینہ (*)
خیشت نے نہ وُو یوارمان وُو چا شاعر خوب کښ لیدلے
مراوُستر کو کښ نے غم وُو، خماری دَچا په مینہ
هر نظر مرحرکت کښ، لیونے دخوانے تال وو
تول وجود دے یوسرور وو، یورنګینہ خوانہ مینہ
ماتہ وے اے مصور، ماتہ اوکړہ زہ څہ یم
یوہ خوارہ دُبت ویښتہ، دَکمینو نہ کمینہ
ماوَتہ دحُسن لورے، تہ رنګینہ شهزاد ګئے نے
ستا په یوسوی نظر به، زر تختونہ شی قربان
ماوَے اے دَغم میرمنے، تہ دګلو بنا پیرے نے
دخوا په مست بهار کښ، دا رنګونہ دخزان
ستا داسونلے، سونګے نہ دی، ارمانونہ دی مستے دی
یوپښتہ میخانے، ستا هر څاڅکی کښ طوفان
دے نازک نیاز بین جهان کښ دومره تورا و درانہ غږونہ
اے سړو کلابو څانګے، ستا خولرے دے خزان
نورے شل پردے پریږده، دا پردُ دغم کړہ لرے
چه خندا راشی ګلشن تہ، چه روښانہ شی جهان

(*) د پلے بحر، دلی شعر، هیر ا رانجها او فهاد و شیرین د نصر مینے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بت تہ نہ ئے دَ بت وینزہ، ستا پہ ستر کو کښ رنا دہ
تہ ساقی ئے تہ شراب ئے، تہ خمار ئے تہ جانان

دومرہ خیشت اوے دیدن، دومرہ مینہ بے جانانہ
ستا لخانشت چہ لیدے نشی، نور وند شوے دے جہان

وفا، مینہ او ارمان، لکہ نُور تا کښ خلیږی
یو غمگین ارمان پت کړے، ستا د ژوند رنگین ارمان

راحہ خوا کښ زما کښینہ، زہ ھم ستا د ارمان روږدم
تہ ھم کل د بیابان ئے، زہ ھم کل د بیابان

زہ ھم ژوند یمہ خو بہ کړے، درد ولے، ژړولے
وینہ مینہ دواړہ ژاړی، غواړی مینے لجانان

مانہ ئے او کنل مسکے شوہ. ستر کے ئے پٹ شوے لہ اوښکو
تور ھنار دے خپل راغونڈ کہ، ځان لہ غلے شوہ روانہ

خپل امید او خپل ارمان ئے ورتہ ستوړے دکاروان شو
دسرو کلو پہ تلاش کښ، پہ صحرا کښ سرگردانہ

درقاصے پہ قدم کښ، د کل ځانگے پہ انداز کښ
یو دنیا د سوز او حُسن، ھوش کښ رُکہ شو زمانہ

راتہ ئے زرہ کښ یو بل درد، یو رنگین شان ارمان پیدا شو
یو زرین د نور بحر دے نو رو نو د جھانہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



منم

ولاړ وم په اورکښ ملوے اور زما قسمت
لمبے دے قسمت نه وے وے لمبے زما دمیّت

نه بخت او نه کمال منم نه تورہ نه جلال
یوستاد ستر کو خیال منم اوستاد شوندہ وست

نه کل نه دلربا منم نه حُسن نه بهار
یوستاد خندا راج منم بے تاج بے سلطنت

نه چل او نه تدبیر منم نه عقل نه تقدیر
یوزیرد سپرلی کل منم ضامن دیارد پت

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلونہ د ورخاړی

کلونہ د ورخاړی درنگ ثنا څکی ولاړی
سحر پہ خندا تیر کړی ما بنام تول وی خفہ مراوی
کلونہ د ورخاړی
اغشتی (ه) ئے سل رنگہ خندیږی څنگ پہ څنگہ
سحر خوانی مشر نگہ او ما بنام ولاړ وی ژاړی
کلونہ د ورخاړی
خوانی د یو سحر دہ جمد ون دیوے وہئے
بیا ہم مانہ نزان دی چہ ہر سحر خندان دی
او زړہ یو پوستے غم تہ دلبر ساعت تور تم تہ
آدم د او بنکو نوم دے پہ کلونو پسے ژاړی
کلونہ د ورخاړی
څہ ښکلے ښکلے خاندی رنگینہ دی تابان دی
بنائست د گلستان دی
غنی ورتہ ہمیش حیران حیران ولاړی
کلونہ د ورخاړی

(ه) اغشتی ...

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خُمہ، خُمہ، خُمہ

په رنا باندے مُین یم خو، تیارونہ نه یریږم
که پښیمان په ګناه نه یم، پے خونہ غاوړه کیږم
پرون تخم وم، نن ګل یم، سبا بیا به خاوړه کیږم
زه د باد یوه چپه یم، په صحرا په باغ تیریږم
کله باد کله باران شی، کله اور کښ او سوزیږم
خوزه خُم به مغه خُمہ
که اود ریږ مه روکیږم
چه ورپښ شم په کلونو، کړم خولے دعطر د ګه
خورومه نے چا پیړه، ورته خاندم خوشحالیږم
چه د رنګ په جهان ورشم، یو رنګین دبوډے تال شم
د نکار رنګ رنګین جال کښ، سپینه شمع شم ګډیږم
چه دمستو په محفل کښ، په ساقی او په جام ورشم
لیونے شانے خمار شم، په خوبونو کښ خوریږم
چه جهان تیاره تیاره شی، اور شی تندر شی عذاب شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه پښتون د پښتو غږ شم ، نه یې یږم نه نږیږم
چه د علم په جهان کښ ، د اوښیار و خواکښ کښینم
هم مغوی پورې خندا کړم
هم په خان پورې خندیږم
په فکرو نو لیونے شوم ، په لټون ، لټون شوم ستړے
خو آخر د غے له راغلم ، نه پوهیږم نه پوهیږم
خو زه حُمه حُمه حُمه ، تل روان یمه په مخه
یو مقام ته ور روان یم ، یو مقام ته به رسیږم
او په لاره چه څه راغله ، که تیاره وی که رنا
زه رنا کښ یم خوشحاله
خو تیاره نه نه یږیږم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو ټکے

دالکھا زړه کښتاه، مونږ دا یو ټکے زده کړے
که تک تورو ی هم خپله شی، بارچه ستاد زخال شی

خپله خته ژکه خسته، بے دره که بے زبان
د کلال کونے چه وشی، د کلال د ستر کو خیال شی

یا د چاوړه دیوکه، یا کلاب کو تو کښ جام شی
د خیام لونگین خیال شی، د ساقی رنگین جمال شی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بامیان

یوخوا د قدرت جمال ، بل خواد انسان کمال
زه ئے لیونے کړمه ، چار چاپیره نور دے
نه د بامیان(*) نه دے دا ، داخو کوه طور دے
دلته د فطرت کمال ، دلته د آدم جنون
دواړه په ضد شوی و ، جوړے که ترخه افسون
هر خواچه د لار نظر ، غږونه ، نا ، کلونه دی
هر غږ د دریاب د رنګ ، یوناپه زرکونه دی
بل خوا د آدم د ژوند ، مینے او ایمان قصه
هر غار کښ نغمے د عشق ، هر خوا د جانان قصه
هر یو غار کښ پروت خاموش ، سازیو د نورو نو دے
داروک او ویجاړ جهان ، کورم د نیکونو دے
دے تالا جهان پسے ، دے د پښتونشان پسے
دے تباه دوران پسے ، دے شهید جانان پسے
دے سوی کلشن پسے ، دے روک کلستان پسے
زه د زړه په سرو وینو ، ژاړمه ژیمه
زه چه د تیر کورمه ، سر لمبه سوځیږمه

(*) بامیان د افغانستان په اباد ترکے یو ډیر ښکلی تاریخی ځای دے . د بودا د دے سترے مجسمے لمسره لږ فاصله تاریخی یادګار ولاړ دے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرلے

اوگورہ جانانہ دتیارے نہ رنا جورہ شوہ
نوے سپرلے راغے دکھلونو دنیا جورہ شوہ
زمکہ لکہ شارہ آبئے بورہ، ورکہ سپورہ وہ
چترہ مرورہ مستی تلی دخپل کورہ وہ
پا نہی غُتے نہ وے پہ ھربوتی دمک سورے و
شرنک دژوندون غلے، میخانہ نے تشہ تورہ وہ
یا ساندے او اوبنکے، یاتے سپینہ خندا جورہ شوہ
اوگورہ جانانہ دتیارے نہ رنا جورہ شوہ
یا جدون ارمان و، یا رنگین نشہ رنگونہ شو
مینہ زہ مسکے شوہ، پہ خندا ورتہ کلونہ شو
مست شو ساقی دا سے، کل جہان نے مست ہوشہ کہ
مرہ سا امید شو، مہ نظر کبن خمارونہ شو
ھر قدم کبن تال پہ ھر خلہ کبن مُسکا جورہ شوہ
اوگورہ جانانہ دتیارے نہ رنا جورہ شوہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیاسپوږ مۍ کاسیره شوه ، په ستر ګو اشاره کوی
ښکلے ، نوے مسته ، شرم شرم کښ ښخره کوی

هر خوا مینه مینه ده ، شرینه ده ، رنګینه ده
رنګ او حسن یوشو ، مست شو خاندی مسخره کوی

خوب نه جوړ خمار شو ، د فراق نه لیلیٰ جوړه شوه
خاندی غنی خانه بیا د ورانه دنیا جوړه شوه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مابنام

اوږې راغله په مابنامې کښې — څومره غمګين خدايه دا تور مابنام شو
اوکوره ساز بيا مهين مهين شو — رنګين رنګين شو رابنکلے دام شو
هوس نرلمے شو شوده زرکے بيا — خان کښې رنګونه د مستۍ کوږې
زه په ژړاشم چه ورته کورم — داژوند خوهسے لاړو تمام شو
دخوانۍ شرق اود آسمان تندر — زوږے مزه کا اورے مزه کا
زه سم راوينس لا نه وم د خوبه — چه نمر زيږے شو اوږد مابنام شو
نظر کښې لړې زړه کښې ارمان — خود کښې خوبونه د بل جهان
دغه يو چونګ ازغې م لاس کښې — نيم د ساقۍ دی نيم د امام
خو د خودۍ ته کې (1) منتونه — سوزې دی وريتې م داخپل اوږونه
ما خو يو خاشکی خار کښې وو به که — خانه جانانه اوچت کړه جام
خورده بې خورده هغه سرور ده — چه ستا علاج دے نشه په جام کښې
ناپيمانه کښې د ساقۍ شته دے (2) — نه په خندا کښې د دلا رام
خو راغله اوږې اوساز مهين شو — اميد روښان روښان په تور مابنام شو
راکه چه وخکم اوليونے شم — د نن ثواب ئے تول د خيام شو

(1) کې اکوی۔ (2) خان خای خای - نه د - نا - په بنه راوړی دی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپوږمۍ مسکۍ شوه

سپوږمۍ مسکۍ شوه وے دا ، ټول ډخه کړے ،
مینه کښې مړه ، څوک ټلل نه کوی
په سوبهار کښې دکلونو حساب
خاندۍ مستیږه اوچړچے کوه
ډډے لګها سوالونو یو دے جواب
څه کښینه کوډے د غاغچے کوه
د زړه وطن کښې د سرلاړه نشته
د فکر ټول ، لکه بالول به څه کے
د یار حساب د خپله یاره نشته
سپوږمۍ مسکۍ شوه وے دا ټول ډخه کړے
خانده سپرلی کښې خوند ژړل نه کوی
مینه کښې مړه څوک ټلل نه کوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینجی

پیسے مِ دبابا کړے امید ونه دخپل خان
کړه جورمِ خان له کور
یو باغ تے نه چا پیر په کښ میوے دکل جهان
کلونه دهر لور

په هر قسمه میوه کښ تو نوے ؤ قسمونه
انځرؤ که املوک ؤ، که انارؤ که بادام
عجب عجب نومونه، لا عجب پکښ خوندونه
خرما هم ثوابونه، جنتونه په آرام
څوکاله مِ خدمت ولړ دکود دسړے وکه
ماوے دے بدل کښ به میوے خورمه ملدام
ماوه یو آشنا ته به دک ډک شکورونه بزدمه
سه هشوی په غوږ وکښ کړ پندی کچه بادام
یو کال نے څه خبرے او اشارے غوندے شروع کړے
چا دوه دانے چا شل او چا په مخه انبارونه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل کال نے نقشے جوړے د جنت د نظارو کړے

هر خواته بس گلونه او گلونه او گلونه

سپرلے نه وجنت د یار وعدے د وفا کولے

هر کل یوه وعده هره غټه دعا سلام

باغچه د بوټونه وه ، منارو وه د امید

هر شاخ د میوو ډک دیار د مینے وو پیغام

چینه وه ، که چرې وه ، بابا سیندو ، که لښتے و

هر څاڅکی د اوبو کښې راز د حسن و دوام

هر څاڅکی د اوبو کښې رنګ د حسن د جمدو و

ارمان د هغو ، د رخسار چین ماچین او شام

او دا فصل نے کوړه ، د گلونو نه میوے شوے

اول نے د خمار بیا د طاقت جوړ که نظام

چه ستر کوته د نګونه و ، نوټ بے نه مزے شوے

هر څوک پوهه ساتی که وی خیام او که امام

او وائی ملاجان ، شابه که او باسه شکرونه

دا شکر خونه ما نیکه هم نشی پوهه کولے

رنګونه او گلونه ، ته بخښے خوجها نونه

خوزره م خو تکنی وه ، او مضبوط دے بے غوږ نے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوا ے دخاخکو بہ ستاہر خاخکے دریابو نہ
سینلدو نہ ستا یشمار ہ بذہ بس لپہ شم د کولے
اوستا پہ سخی درکبنں خوورینبی امبارونہ
دِ تشو پہ کچکول دسرو مہرونہ دِلکولے

راواورہ غنی باغ تہ دا پہ کمہ باندے لاپے
میوے چہ دِ بخبنے شوے نو پہ چادِ اوخورے
او داخنکہ میوے وے چہ کربوری دنزی شو
پہ خت دِ لکیدلے دے نو نرے زیرے

ھغہ وے یارہ واورہ چہ میوے پہ پخیدو شوے
او بنکلے داسے بنکلے ورتہ صبر کول گران
پہ وَنو کبنں پیغلو کو دَ وصال ستر کے وھلے
پہ مرگ پورے خندا وہ ، گل یدہ ورتہ خزان

نو راغلہ پرے چنجی ، یارہ پہ ھر څہ کبنں دین شو
پہ رحم کبنں دا کوان ، دَ غلا او چل پرو فیسران
پہ ناکو پہ پتنگو ، پہ ھر څیز ورحوالہ شو
دَ دوی پہ کور اختر شو . او نورنا پہ کور تالا ن
انځر ، کہ شلتالو وو ، کہ صحہ وہ کہ املوک وو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وُ پوست لکه ریښم خودَ څیرلو تیره دُوک وُو

او دیر نازک مزاج

دانرکښ چه دانه وی دَده مور یکښ لنکیږی

نیازبینه دَجهان

دابل . دآفت څخه ئے میوو باندے غټیږی

دَ سیلے نوابان

سړی م ِ ورځواره کړه ماوے غوارم داساعت

بابو صیب دَدارو

که اَس ، که موټر غواړی ، یکښ زرګی دارخصت

سره دَپچکارو

سړی به تله راتله دَبابو کرم وو دکا ن

منّت . زاری . سوالونه

دے مینځ کښ لکه ناوی ترڅو چا پیړه با غوښتان

کول ئے منتونه

بائیسکل په تانګه کښ ، کله بس کله موټر کښ

سړی به م ِ روان وُ

منّت مے منه چوته ، صبب دو لے نواب زادګے وُ

مونږ تو لے فقیران

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخرم وے سوبتہ ک روپو نوتونہ بوزے

د افضل ربّانی دے

ایمان نے بس پہ دغہ شین تصویر د خپل بابا دے

سوچہ پاکستانی دے

چہ راغے بابو کل، پہ رنگ او فکر بنا پیرے وو

پورہ پہ کمالونو

پہ عقل لږ میخین وو او کر بور وکښ نرے وو

خو بنکلے نے پتلون وو

چہ دار مدار ئے وشو، وے ښہ وایہ کنہ خان

چہ تاتہ څہ تکلیف دے

قسم دے پہ کار مہ شو، کرم کړئ افسران

خو زمونږ سرے شریف دے

سرے خاندانی دے پیر خوښ وی شلتالان

پہ واوره وکښ آمونہ

پہ گډو کښ نے لم لکی او پہ چر کو کښ پستان

پاستہ پاستہ ورنونہ

ماوے اے بابو کلہ، شلتالان خو دا دی پیړی

خو دک دی د چینجونہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کہ وے خورے آواز وینہ بہ دِ نوی پورتہ کیږی

بیکالہ دَ بینجونہ

مادے دبور زویہ کورہ کښے چہ غونځیږی

څارہ بہ لکہ سیتھمان

پہ خیتہ بنہ مارہ دی غورے خیتے نے ځلیږی

تازہ پاخہ توتان

میوے یئے شوے دَ دوی زمانے تش کړاو تاوان

لنګیږی او ډیریږی

چہ رزق تر دوی اوخوری زہ بہ څہ کړم بیابان

سرے پکښے پریږی

مادے سرہ یہ زر ورلہ څہ راوباسہ عـــلاج

فوځونہ نے ډیریږی

دَباغ نہ مِ شوہ جوړہ مقـبرہ دَسکہ دَراج

قبرونہ دی زیاتیږی

ھغہ وے دا چینجی نہ دی مچان دی دَمیوے

دی عام پہ کل جہان

دَ ډیرو باغیچونہ دوی کړے جوړے ادیرے

کړی منځ پکښے باغوان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه پوخ شی وزر او کړی په هوا کښ الوزیږی
ماوے د بوږے زویه کوره کوره چه غوڅیږی
د دے د پاره ژمی کښ مونږ والے پچکار ئے وے

دا رونه وو اجل وو

لمبو لے په سنه شان موڅانکے غټے او نرئے وے

هم علم هم اتکل وو

چه دا تے څنګه پاتے شو په دے باندے حیران یم
خو دے د دله شی کښ جوړ په ژمی کښ سا نه وه
ماوے چه څه کښ سا وه آخر لاړل مال د رب شو
او سنه وه چه د خلاص کړل په نصیب به دنیا نه وه
اول خو چه بے راغلے نو د چا کوینه د خلاص کړم
چرک مے م خمیر دے، پوار او نقصانی دے
ایله کمزے سپی او پیشوګان د واړه یو ډول
بنګله کښ بس یو زه یم او یو فضل ربانی دے
او یا د دې شی چه راوستل جیا نه د امداد له
ګنی د نه خطا شول خو د موټ راله خروب کړل
د مینو د کتا کتو د غمه د کړم خلاص
غوایان د نه د عا کی تا د مه د مګ په خوب کړل

(۵) والے = وهلے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَسوتونه اوزکارے پاکے ښکلے مودیرے شوے

پخپله کاو دیران

خاموشے په غوجلوکښ دَغوا مینبونارے شوے

څه خوند وکه جهان

. څه دَمزے کارشوچه دَدولسونه درے شوے

اے پلارہ دلقمان

. دالمال دِکورہ چه، چه دَنوونه زړے شوے

کامل دِاُستازان

په بل ځل چه پے راغلے، نولنډے بوچے دِیورل

څوکئے کوم پخپله

پخوابه غله زمالکورہ لرے تښتیدل

اوس نړه تښتم له غله

بوچے په اندرینو اولنډے په مالتان

دمړو دارو خلاص کړل په میړه کښ پیشوکان

خانی شوه دَ منکو (*) بریتو شوپکښ خان

څه ښکلے بنیادی جمهوریت ئے که روان

خبے ئے پټے یوړے، بهر بنے دی امانی

اوس قبض وی دَلوکے نه دَفضل ربّانی

(*) مورکو .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابو عالی مقامہ یوخو پښہ وکړہ نور
دَ خپلے پچکارے
چہ نہ کئ راتہ څوک دا دنیکہ دَ مال پیغور
او خلاص شوم دَ خوارئ
دا څوک دی پاتے، صیب دَ دَ غمہ م خلاص کہ
او زہ کارم لکہ خان
چرکان دی بیا کن شوی سرے بنکتہ خپے پاس کہ
خیشتہ لکہ دَ دُخان
بابو صیب وے چہ دانوی دارو امریکنی دی
پہ نوم جمالن صفاء
کے مال خیراتی دپرخہ انگریزی څہ جرمنی دی
خو دا پکښ اعلیٰ
دارونہ دی دا خان، بندۂ بوتلو کښ وبا دہ
یو اوردے یو انکار
یو ماشے بہ کئ بل تہ دا قصے ترسہ کل آبادۂ
او قول بہ شی فرار
دوہ کی صاحب وے بنے بنے پچکارے دی مونږ دہ کړی
یو ځل نا خو خو وارہ

دا دَ ایوب خان دَ دوہ لمر شعر دے او هغہ دہ لمر کښ نواب کالا باغ نہ مونږ کورہ نزدے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خونہ راځی قابو کښ، داځہ شے دے بنځہ مړے

خواری پے دہ بیکارہ

بابو صیب وکبس یا خو علاج ئے تبر کے دے

خشاک خو خپیز ی کمران

میوہ دِ او خوړی سرداد لکما روپو لرکے دے

قبلئی ئے افسران

او خان تہ میوے خہ کئے تیپر دیر قبض کشا دی

مزاج بہ دِ تازہ وی

سړے وی سبہ خوشحالہ چہ نہ تش وی او نہ ډک

او باد پہ اندازہ وی

د رځہ خان پہ تیپرو، رنگ شہ روک دَ آلو چے

تراوہ مردار انار

څوکئے بہ کئے پہ خپلہ نہ لنډے شتہ نہ بوچے

بیکالہ دِ دے وار

چہ گلہ کړی پہ تیپرو کښ مرچکی شی لونگین

څہ دیر ئے مزے شی

دَ لوئے نہ تو پہ جوړہ کړی، دَ روکی نہ غربین

او بڑ ئے نشے شی

واوا، کرکمانئے قینکے لیتے دَ کچالو

قربان تے چرکوتے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاړ ښکښ پوست مهین. کړې په تکور دله تالو
اوکوتے به خښتے
بے کاره دی مخ . خه مانے اوناشپاتے
امرود زوے دمرود
مسور ګکښ مستی دهاے قربان ے د پیتے
کلکیږی بے وجود
غلے په تورم کښ کچالو ته نه رسیږی
شته دال کښ تنک تکور خولږ احیت سرکښ غږیږی
وچه په کچالانو ښکښ شه روک د آلوچے
بیکاله دے خوکیږے دی . نه لنډے شته نه بوچے
چه خورشو په باغچه کښ د بابو صاحب بیان
چینجی شورا برسیږ
دولکی سرناتے مخکښ بنه جلوس عظیم الشان
زمونږ نه شو چا پیژ
یوغټ پکښ راځکښ شو په شکل معتبرو
سپین رو د ږیرے دراوند مزاج
وے ارمان چه ستا نه مخکښ ستاړے غلے خو خبرو
لیده به د خراج
خراج که خراجونه د تحسین او آفرین
چینجے که حلالی وی ستا پخو کښ به سږ دی

(۱۰) عدس په شلی اضافت ته یه کښ ګډه ژبه بولی په خوست کښ د په منسور وایی په هډی کښ ږی منسور بولی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاباش ستا پچکاری او آفرین ستا سکنجبین

زمونږ ه روک نسلونه ستا په علم شوځوندی

که ماشے که میږے و که ملغ وُ که د مبر وُ

د نبمن زمونږ ذات

یوهم د ږنه بچ نشوکه په سمه که په غږ وُ

په بچ (ه) وُکه په سوات

هیله مو په آرام باندے سږ او خورے میوے

ماره خوښه ماره شو

هیله مو قام شو خوراوږ دے او د موسلسلے

نسلونه مو زاره شو

نور هر څه لره مرګ مونږ له ژوندے او رحمت

د فکره د قربان

په کمه ژبه کم قلم زه وکرم ستا صفت

ای پلار ه د لقمان

مونږ تول ستا سو زیارت او عبادت له یو را غلے

حکیمه بے مثاله

دا خان د میوُ غل د دادے کړځی ژوندو لے

بے علمه بے کماله

(ه) مطلب د چچ هزاری سیمه ده .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بابونه ئے بابائے محافظه مدد گاره

سخی مشکل کشائے دَ نامے نه دِ قربان

بس دے غلو باباچه شو قربان ستاد پیزاره

راځئے چه تبرک له سنبل کړو خپل مړنے خوان

یو غړ شو، او دغه سره بابو صیب بوسار شو

بابا دَ سکنجبین

دخپلو مریدانو سره پیر غریب کا نه شو

او بنده ے شو مشین

ماوے اے بابو کیه، خوار شے لاس که پچکا رهے ته

چینجو ے دَ جناب گیر که، که تا دی نه کے نو مړ دے

او اے دَ بوړے زویه گوره گوره فکر او کړه

یو اخے چینجی زیر نه دی چا پیره وطن زیږدے

ورو کی بابو کی یو سیلے دَ او ړکه جوړه

په څپر کښ خوږ شو

چینجی منجی خوځه کئے مونږ ئے تول کړو بے جوړه

په ستر گو موتیار شو

د تورو تیارو مونږه چه واپس راغلو په هوش کښ

و څپر تش میدان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چینجی وباغ ته تلے بابو کے ولاړ وجوش کښ

خپل عـلم ته حیران

زمونږه بابو کـل قلار، بے غمه اوخوشحاله

په مزکه پروت وُ خوار

دا روپه مخه بوته دَجنت تو د ے حلوا له

په یونان ښین کزار

مثال دعـلم مړشو، شو یتیـم زمونږ قام

اوس څوک به کی خدمت

دیروکښ دَ میرے خپلوانو بنـخ کړلو مابنام

په شان اوشوکت

دَعـلم برکت و لوئے بابو شو بابو کے

افسر شو دپښتون

یولاس کښ څپکاړی کړخی اوبل کښ تبر کے

او ښکلے ئے پتلون

شو مورا وس په بنیجو کښ ئے مست زیرا وبم غږیږی

پش پش دَ څپکاړه دے په آسمان زما چلیږی

چه زه ویم بابو خانه کوړه کوړه چه غوڅیږی

بابو صاحب په ناز په انکـریزے کښ اوخنایږی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی خلا مګ شو چې نو محکمه زمونږ خلا صیږی

ایښے م د ښځملونه بیا چیت الوان ته ګیږی

اوزمونږ ده اسے ښکلے بنګله کلی کښ جوړیږی

بی بی م ده خوشحاله په جاموکښ نه خائیږی

اوپریږده چه دِ خوری، خان ته یو شے ئے د خوراک

چه څوک دِ خوږ نه غټیږی

اوته که رُک شے څه پے، بس خس کم اوجهان پاک

پیسے دِ نه زړه کیږی

مچان که افسران دی، څه خو غواړی د ژوند ژواک

په اَس هر څوک سوریږی

اوجوړکه د کیکړنه یو مضبوط غوندے مسواک

چه خوله دِ نه خوږیږی

قیزه د قانون خُله کښ او بارونه لس منی

غوږونه دِ که مراوی اوُ دلکی بدخشانی

اوّ کاړ تاسوکښ نشته پوښے مینه وطنی

وطن شوتول آباد سپینے ښکلے شین چمنی

خوند چائے، اصفهانئے، کښ کئ تری امریکنی

دا ملک چه مونږ کړو جوړ لکه جاپان یا جرمنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوباسے به شک ونه اوور کنے به شیرینی

خانان دی تول شومان قلنگ زمونږ ونه منی

هیڅ مینه دقام نشته، بس کنی، کنی

په خان باندے پوښتنشوم. صیب م نه کښ وخوندی که

تو کړے م ترے کړه جوړه په اوبو کښ م نسکور که

پوره په فلسفه م پوښے دمړی اوژوندی که

اوده به وے - بور بور، چه ما به لږ غوندے پے زور که

خو خاموراته خلاص که وے پهانسی اودونږ دوارهٔ

دے بابو صاحب په نړی څښت پوهږے ترلے

بابو په ډلکے لاړ ښه کړندے دنهر په غاړه

نور برش نے افسړی وو خوښتک نے ولړلے

شو باغ زمونږ ویران تاکی م ډک کړله کنی

جوار غنم م لاړل مالیه کښ امانی

ډک ډک دغلے راغلل انګوتان امریکنی

څارنه شوافسران خوچرته نه ښکاری غنی

هغه چینجوکه مړ، که څوک منی که نه منی

یوازے اوس ښکلکه کښ کړی فضل ربانی

(۵) نیره نهر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلندن معشوقے

دلته خوا ته ازغی دی — بل خواخانکے دَ نرگس
دَ هنر علم سایه کښ — کړ ځی کمال لبانه مس
هره نوی نوی چال کړی — خو همه زما کښ دا خیال کړی
چه له کلو بورا و اړی — په ازغو کښ زه غښ (۹)
دیر ورک کړل دیر به ورک کړی — دیر سپک کړه دیر به سپک کړی
دَ دنیا لشے دی پټے — دی لکو کښ د تاوس
غنی خان ملا باد زکړه — عقیدہ دے برابر کړه

بلا کا نوکښ دیر وے
چې ته مات نه کړے او دس



(۹) غښ : غوښ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عجبه فلسفه

فلسفی دملک ولاړ ؤ ، و چا پیړه ئے علم
دَخود سپین مثال په لاس . جدا کوئے زیات او کم
فکر تیز ، نظر باریک . دلیلونه کلک میخونه
دَمنطق په پاتکو . پاتکو ؤ روان به بوه سم
ماوے آ دَهوش او عقل د رنها بله مثاله
یو بے خوده لیونے دے . هر یو سازے دَماتم
ستاد پوهے دَ دریاب نه یو قطره د رنها غواړی
څو سوب دَخندا غواړی . څه مطلب غواړی دَغم
فلسفی کوے ستړے پوړته . څله مسکے ستړے دبنانه
خړے خړے دَغم لوړے پکښ را ځلے ناګهانه
وے آ : زما غمګینه زوړیه ، خیشت وجود ای نه
دَده نور به هله وینے . چه په پتو ستړو کوم
علم سپین دبنان مثال دَخوږ نشی لیدستړی
دنور ستړے دئے په زړه کړه . دنور دنو دنیا کوړی
سمندر دَ خیشت څوک کیږی دمنطق د کوم څنی
دَغم باد دچا نیولے . ټول دَ ځلے او دوړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وے دخود په میخانه کښ ستا د څښلو شراب نشته
چه د مینې ساز پرے اوږی، دلته هغه رباب نشته
ستا نظر جدا نظرے، ستا جهان جدا جهان
تا کښ وینه د مجنون ده، ستا نصیب کښ سیابان
ستا مستی وهی تالونه، په سندا د بوږی تال کښ
د هلال په نرۍ خط کښ وینے شوندے د جانان
لیونیه، لیونیه، دا ټول عقل زما واخله
خو بدل کښ راله راکړه، یو قطره د خپل ارمان
ستا د اوښکو نه قربان شم، ستا د درد د نوته پسخیږم
چه په دواړو کښ خمار دے د خوبونو د جانان
ناچه مخ د دنیا وارووړ، دنیا چې نه کړے پاکل دے
خو تا تاوان کښ کتلې وکړه، مونږ په کتلې کښ تاوان
چه جهد وان د خیشت تالاشی، غم تش غم شی د دلبر
څومره مستے هر قدم شی، هر نظر څومره رو بنان
راوړه، راوړه زړه د راوړه، چه نه زه په زړه کی بشکل کړم
هر ارمان خماری دے، مستے هره وسوسه ده
راکه راکه چه ژوند شم، وی (۵) د مرګه یره مرګ دے
ژوند ارمان د او جانان دے، که امید که تلوسه ده
وایه وایه څومره مسته، د دلبر د شان قیصه ده
د جنون او د جانان دا، څه عجیبه فلسفه ده

(۵) وی: وای۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوکوشتو

همه بحث ئے فالتو نه بس کئ اشنا قر تو
پښتل خانئے پوخ کمان دا استاذ د ارسطو(۵)

بنده کړی ذرے ذرے
دا بے واره تر تره
پیرے خان کړی بنا پیرے
دا د دونو از مرے

کئ مزه د بیره مزه صفت خلکه کښ د بل چا
لاچه وشی پښی شا شی مزه ے لاسوا

خوند خبرے کئ د دوار
غلے غلے په قرار
څورب خرد قندهار
چپه خلکه بنکاری اوښیار

پوښته د پوره تهر تو دا اوچت آواز قر تو
خان کښی پوخ جوړ کتو دا د خپلو کوکوشتو

(۵) ارسطاطالیس د افلاطون شاگرد مشهور یونانی حکیم اوفیلسوف

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه د اقبال

زۀ[1] په زړو پردو کښ پټ یم
ته[2] په زړو کښ ډنډ
بس یو زړه دے چې غښے
نیغ د سلو وارو وځی

په هر وخت په هر مقام
د هر شی شکل جلاوی
هر ساعت جهان ورانیږی
هر ساعت جهان جوړیږی

د ژوندون راز بس سفر دے
دا بد راز ورانیدل دی
راپخوا اقبال[3] زمانه
ډیر خښته رنګ کښ وئیلی

(۱) زم (۲) ته‌م زه‌م ـ نه‌م (۳) اقبال ـ ته اقبال لاهوری (۱۸۷۳-۱۹۳۸ع)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دُعا

ستاد مینے په صحرا کښ زړه سور پرق د لالہ نه شم
ستاد باغ کشمالے نه شم، خورلو کے په هوا نه شم
ستاد ستر کو مشغاولہ، ما کچکول کنکرو وانغشت
سودائی خپلے سودا کړم، مجنون ستا په سودا نه شم
یو کوټ مینے اوبه نه شم، چه غرمه اوکړ بلا ده
هر خمار جانان جانان شو هر خمار بلا بلا ده
زه د سرو کلو غړو رشوم، د کرلو بوستان نه شم
ستاد کوتو په پردو کښ، لکه سُرښندیوان نه شم
راشه اوکړه دلبره، دا ما څه په څه بدل کړه
څه دِ راکړه اے جانانه، څه دِ راکړه څه دِ راکړه!

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترجمه د اقبال



میلادِ آدم

عشق کړه چغه چه پیدا شو لیونے ځیګر پیدا شو
حسن ورپیدا ډیرے، چه ډنډول نظر پیدا شو
یو چغه له دے خاورے، ډ ازل تیاره ته لاړه
اے پرده وکښ پټوا ودے، پرده سوزناکه پیدا شو
او نظرت حیران خفه شو، چه ډک دے خاورے مجبورے
ځان جوړونکے وړانه ونکے، ځان لیدونکے سر پیدا شو



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوہ بے مہارہ اوبنہ تہ

تہ اول ھم زملور ورو وے مرہ راشہ بیا م ورورشہ
یا م سورہ پتکی کل شہ یا م نرہ وینے اورشہ
د پښتون د ځگر رحم د پښتون د رو ځوتورشہ

چہ دہ پہ سرغو یمے وی
تہ دہ د متو زورشہ
کنی لاړے او ورکیږے
سر پہ کندو د کاروان شہ
تہ خو دے بنگلوتہ رپے
بنیریہ : کور د ورانشہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



سینڈہ خہ سینڈہ بھیږہ

دا قسمت دے دَ دریاب — چہ بھیږہ او بھیږہ
چہ پہ کتو ورشے او ړشہ — پہ اوارہ کښ روکیږہ
چہ یو خاے کښ آغا ناشے — او بل خاے غلام نشے
تہ خوراک د کل مخلوق شہ — پلار دَ ویل مور دکیوړی
زہ دائی شہ مور او پلار شہ — دبنامار او دہ چرگوړی
زہ چرے چرے شہ خوږ شہ — چہ دِ غاپے شنہ پتوشی

او با غپے او چمنونہ او کلونہ او کلونہ

چہ ما بنام د راځی خوالہ — عاشقان غمگینے ستر کے
چینکئے دہ تہ گلپیږی بلے ستر سرہ لاسونہ

کلہ روب لکہ دَ غم زہ — کلہ مست زلمے گلپیږمہ
سینڈ خہ، سینڈ بھیږہ — سینڈ خہ، سینڈ بھیږہ
بس ہم دادی چہ شہ یک دی — دیو سین او دَ بل سین

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وارہ غر سمے جدا دی آمو وا باسین

دَجیندی او اباسین

چہ خیالے زہ پہ کم خیال کښ

پہ قلاہ جیندی کښ کم دے

چہ راوی(*) پہ کم خمارځی دنو بنار لندی کښ کم دے

سیندٗ ځہ، سیندٗ بھیرٗ سیندٗ ځہ، سیندٗ بھیرٗ

دَمہ سیندوی خپلے لارے

ھر یو خپل کوتہ روان دے

دمہ یو خپلے دشوارے زہ چرے چرے شہ اور

چہ دِ غارے شنہ پتی شی اوبا غچے او چمنونہ

(*) راوی : دپنجاب لہ یوہ مشہورہ سیند دوحمہ یو سیند ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بادیوه

څنګه دِ پریږدی څه مستانه دِ رفتار دے
ګورهٔ دَ کاغذ نه چا جوړ کړے خپل خمار دے
بادته دَ عاشق په شانِ خاندے خوشحالیږے ته
مسته، سولیُ ماره دَ طاوس هسے ګډیږے ته
بے جړه وکلاپه په آسمان کښ زرغُنیږے ته
زړه دے دَ قسمت په تار تړلے کړ فتار دے
تهول رنګین خمارے خو مجبورهٔ هر خمار دے
دومره وِیږ آسمان کښ دَ خپل رنګ څاخکی ښکارهٔ کړے ته
باد باندے وسپورَ دَ لاندے خاورو ننداره کړے ته
چونګ خاورهٔ وجود یولیو نتوب یو تراره کړے ته
ته د بنیادم دَ بخت او تښتے یو تصویر یئے
یو رنګین خمار په تار تړلے دَ تقدیر یئے
زه هم ستا په شانِ ګله ګله په هواشمه
پریږدم خاکی ځان پس یوارمان یوه دعاشمه
خوب شم دامید، دَ ژوند رنګینه مسکوشمه
څه قسمت وُوئی (*) راشه سَرم ستا پکار دے
اے دَ آدم زویه ستا د خاورو سره کار دے

(*) وُوئی اوږی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا لئے

ژوندم تال دے نړۍ زانکم — نړۍ د خیال په نیلی سوېدے
د قسمت پرې اکوه دی — خیژومه پرے تا لئے
څه دی څه دی بدکه ښه دی — د دیوالہ اخواځه دی
چه محراب د ملا جان دے — که خمار د ملا لئے

نړۍ د ستو په زور پریم — نړۍ په وږی نظر پریم
زه د څان سره سیالی کوم — زه پرې نه یم په سیالئے
زه د خیشت مقام لټومه — رنګ، آواز، خیال او نظر کښ
لکه څاڅکے تله واخلی — تلی زور په سمندر کښ
که د فکر نظر تیز دے — د قسمت دیوال محکم دے
دیخوا، دیخوا خو به سم کم — خو دا غم دا خواغم دے
زه پوتے در نه څاڅکے — په یو تور او روک جهان کښ
د خپل خود په رنا کړم — د قسمت کوڅے لټومه
د تال پرې که پاخه وی — که نری وی که رواسته (۵) وی
زه تا لئے خو به خیژومه — نړۍ تا لئے خو به خیژومه

(۵) رواسته = وړاسته .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیام

اے خیامہ تہ تش غم یئے ، تشہ تینبتہ تل فرار
تہ دَجام او ساقی یار ہئے ، یو خیشتہ رنگین انکار
عجیبہ غونڈے جنون یئے ، نا امید او بے قرار
ستا احساس دَ نن بنڈ دے ، پہ یو شکلی رنځ بیمار
تہ لبہ یئے دَ تالاش ، دَ لتون او دَ ارمان
زہ یَ او فکر دَ خزان ، شکلے ژبہ دَ بہار
سَر دَ بحر سرے چپے وی ، دوب یئے وینځ کښ دَ قرار
تہ کشتے دکلو دکہ ، سرسری دَ کشتے لار
آسان پلار دے دَ سبا ، هم بنچے دے دَ پرون
دا هم جام دَ هم ساقی دے ، چہ وصال او څہ بیلتون
دا یو ساز دے چہ روان دے ، د آواز دے سرہ کمال تہ
یو دَ رنګ څاڅکے چہ څخلی ، څاڅ (*) ہیڅ دَ نیلے تال تہ

(*) رسئ : رسوئ .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داستا غم خو څه غم نه دے، چه دوبیږی په یو جام کښ
د امید سپوږمۍ د پته، تور دلږ د ما بنام کښ
په دے مست بنکلی دماغ دے، تو خو خوږ شوے د مرګ جال
د ساقی جمال پت کړے، ستا د زړه نه بل جمال دے
یو مسته او شیرینه، عجیبه د غم نغمه یئے
د سرو زیړو کلو دکه، یو رنګینه مقبرئیے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

روزه قلندره

روزه قلندره (۱)،

څه په پته پوے شوے چه دا ښکته څے که بره
دے کښ څه واړه شته چه سړے وکړی خبره
لسو بلا څانو کښ ده ، کمه بلا غوره

او روزه قلندره

مانه خفه شوے ، که خفه ییے داشنغره
کله کله مونږ له هم راځه د پیښور ره
منه وی چه یاران وی د سړی تکړه غاړه
نوم ، ناموس ، اوخوی او همه خونه معتبره
خو یو په کښ پکار دے دا زمانے غوندے بے سره
داپه کښ کنجکه چه ساقی مود نظره

او روزه قلندره

دا نا تار خبره

---

(۱) زما محترم دوست قلندر مهمند چه په ۱۹۷۰ع کښ د شعبان راخپاره ایډیټر وو.
د شعر ټوکښ هم ډیر کمال الیکشن ته اشاره دی. (غنی)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـ کښے د زندان او قلا دواړو د یوغړه

اوروده قلنده

دا خو څوک دمتہ غواړی څوک یئے د څکړه
زه کمزورے نه یم وی کمزورے بے ضرره
مونږ نه بل وژلے شونه څان له لرو زغړه

اوروده قلنده

دیروکښ ضرور چرته کښ ورانه شی خبره
بس دے نور به چپ کړم خو بس دا پکښ دسره
دا څنګه سیندونه دی هم ښکته څی هم بره
هغه صاحبزاده (۱) ته وایه یا پیره کافره
خلاص د مور بیدان شه د تاتار د بربره
ستا قیمت به دیروی هم یاران د بے لمبره
سړد آشنا نه څاړی یار، څوک د څان د سره

اوروده قلنده (۲)

نوره که څه ورانه وی نوته نے کړه برابره

(۱) صاحبزاده فاروق دگوښے ۔ (۲) اسناد قلنده موصید / اوم له حساب رحمن دے به ۲۹۳ کال یاد کړے دے
اسناد قلنده موصنه مشهور پاچا ای بکول او شاعر هم دے دا غزل او نور هم به کلیات ۔ د کلام عرصه به ساوتن ۔ او نجلی ا به
وی صاحبزاده به وی ۔ دیکن ما ناقطا سنگ زنه او نور چا نه ده ۔ البته رحمن ما تجاوز د چوم اسناد کامل موصنه
به مستنطیه کړے دے ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوے سیاست

د اوښیارو لارے م دیرے زده
خونها د شان دغه لاره نه ده

زه د زړو صحرا وو ارمانی یمه
زما بخت کښ کوڅه د ګلزار نه ده

زه یم خاوره خو دیره بے تابه یم
ما مونتلے لمحه د قرار نه ده

دا د درغومنډی ده د سود او زیان
دے زمونږه د ژوند یو بل جهان

دلته ښځے (*) به یو اوخرڅ به بل
دا بازار ټک او کوته سامان

دلته مینه وفا او غیرت اوږښتیا
چه بے سوده ئے کړے نو خر توب دے

دا قصه بس د چرګ او پیران ده
خو پرے نوم د اوچت سه ټیوب دے

(*) ښځے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما لال

(د مور قبر ته)

زه د هغے لال زه د هغے د ستر کو تور وم
زه به د هغے په سینه تل اوده نسکور وم
اوس ئے بنکته بنسکته د مزار کا نو ته کور مه
خاورے کښ پرته د ے چه ئے زه د زړه هلال وم
هغه لال ستو خاورے چه زه وړوکے لاس وم
لاړمه آسمان ته ماوے اے د جهان موړ پوړے
زور د مړکی زیات دے که د نیا د مینے زور پوړے
آوری په لحد کښ خوک د سوی زړگی شور پوړے
موتے خاورے څنگه پټ د حسن یو جهان کړے
یو پوکے آباد دا چمن څنگه بیابان کړے
څله م نه جوړیږی چه ظالم اووی م رحمن ته
مړک چه د جهان بادشاه کړم څه وایم څان ته
ولے دروازه د علم لرنه شوه انسان ته
سیال نے د څان ولے کړم چه زه د خاورو سیال وم
هغه لال م څه شو چه ئے زه وړوکے لال وم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کنی دنیا ښه ده

ډېرغمے لږ خوب لکه دُنیا ښه ده
نیتهٔ ئے لږه ده کنی دُنیا ښه ده
خوک وائی هغه ښه ده خوک وائی دا ښه ده
ماله زما ښه ده او تاله ستا ښه ده
چاله ژړا ښه ده چاله خندا ښه ده
زړه د مجنون له خپله لیلیٰ ښه ده
زړه د مُلا له توده حلوا ښه ده
چاله مستی ښه ده چاله سودا ښه ده
چاله محل ښه دے چاله بیدیا ښه ده
دنیا هغه ښه ده که دنیا دا ښه ده
چاله هغه ښه ده اوچاله دا ښه ده
ژوندی ته ساز ښه دے مړ ته دُعا ښه ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنیالہ سودا نہ دے　　مالہ سودا نہ دہ

د ملا عقل لہ　　خلہ دہ ملا نہ دہ

زما کوتک نہ　　ملا د لالہ نہ دہ

مزدور وے خانتہ　　خبرہ دا نہ دہ

مالہ تیر بد دی　　تالہ حلوا نہ دہ

د جرمن توپہ نہ دہ　　د صیب قلا نہ دہ

زمونږ تمتو نہ دے　　د پښتو غوا نہ دہ

حبڑ نہ د کاندھی (*)　　خلہ د جنا نہ دہ

چالہ مغہ نہ دہ　　اوچالہ دا نہ دہ

مالہ زما نہ دہ　　اوتالہ ستا نہ دہ

نیتہ ئے لنډہ دہ

کنی دنیا نہ دہ



(*) کاندھی کرم چند گاندھی (۱۸۶۹ - ۱۹۴۸ع) گاندھی د شخی مشهور قومپرست او سیاسی رهبر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوشه

په غمونو کښ خندا کړه په خندا کښ غم هیر نه کړے
اوډ دیر وپه سودا کښ چه قیمت دکم هیر نه کړے
ډ وصال په لمغړو کښ دفراق ستم هیر نه کړے

داچه تۀ ئے ستړکو تښخاندے
دډ ستړکو غم هیر نه کړے
ډ الله الله په شور کښ
چه صنم صنم هیر نه کړے



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

اے خدایہ عقل راکہ — اے خدایہ پوہ یہ را
زرکے مضبوط راکہ — اوسینہ لوبہ را
ستر کے دنور راکہ — رحم دَ خان را
بیاتول غمونہ دے — دَ دے جھان را
ماتئے پہ سرکہ — زار درنہ شمہ
زہ بہ ئے اورمہ — زہ بہ ئے اورمہ
یار بھادر راکہ — کہ ھمت نہ راکے(*)
غیرتی زور راکہ — کہ غیرت نہ راکے
دَ سکندر بخت را — دَ دارا خیال را
مت دَ خالد کبن — توہ ھلال را
اِسلام دِ پریږدہ — زار درنہ شمہ
زہ بہ ئے کتمہ — زہ بہ ئے کتمہ
دَ شپے خیمہ کبن — دَ عشق شراب را
پاک مل دَ لاړے — لکہ ګلاب را
دَ سپوږمئ نور راکہ — لوبو کولو لہ
دَ بوی ئ تال راکہ — جوتو وھلو لہ
جھان دِ پریږدہ — زار درنہ شمہ
جنّت بہ ئے کړمہ — جنّت بہ ئے کړمہ

(*) نہ راکے = نہ راکوے۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

هَو برکیه هَو

پینبس په لیونی باندے شو پینبس لیونے یو
وے ورده په یورپ کښ سړی کی دَ سړولَو
بانک کښ د سبلم پرون نوے تپه واوریده
تلے وم خالصے ته راته ئے اُوے "نهکے ناوه
پریږده باچا خانه دا دَ جیل قصے دِ خوشی دی
دال م نه هضمیږی نه عادت یم په پولاو
واوره دَ یورپ نه دَ انصاف خوږے خبرے
واوره مږے واوره دَ پیشو بی بی میاؤ میاؤ
یو نهنگ غټ شوے وو کبان ئے دِیر خورلی وو
بل نهنگ پرے راغے اوبه سړے شوے دَ تلاؤ
یخے دَ قسمت کوتے مروند کله مړئ نیسی
خپے که خان له ماتے گډا کی کړی په داؤ داؤ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبت بے وفا یار دے دیو غیږ کښ بلا تہ خاندی تل

وُپرون غږ سو سـزنن دَ صیب سـرہ وُ
خاپے خبر تسبابہ چا تہ خاندی خندی وبہ څوک

مونږ نہ خوخفہ بوتہ مُلا علی داو داوُ
دلتہ چـرکوتے دَ کُرکہ جنگ ے پہ آلو (۴) اوشو

ورکړو دَ چا بے (۵) موټر لہ بیا فـږ نکی تاوُ
کورکښ دَ قصاب غویان پہ اوچو تانتو نښتی دی

هولنډیه ، هـوبرکیه ، هـر چرکیه هـو

جنگ عظیم ۱۹۴۳ع

(۴) آلو: هکړه هکیو. (۵) چا بے: کلی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوشه

مخ مے دَ قبلے نہ لیونے ترے خبر نہ دَ
ستر کے دے واز دَ انسان پہ تماشہ
عکس دَ سپوږمۍ دے دَ شبنم څاڅکی کښ اولیدہ
خکہ پہ سجدہ شوا رسکے شوی جانان پہ تماشہ
نشتہ دَ ژوند دَ خوب تعبیر کتاب کښ نشتہ دے
ستر کے دَ کہ پوریتہ دَ آسمان پہ تماشہ
خدائے مکہ کښ نشتہ دَ منصور دَ خُلے م وا وریدہ
د ہر شہ لیونیہ، شہ دَ څان پہ تماشہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



حقیقت او مجاز

دا دوه حورے دَ جنت دِی وئی شرابونکښ لامبو
که مِ ستر کے دَ جانان بیا شولے دِ کے دَ اوبو
چه دَ مینے په مذهب کښ شک کول کافر کیدل دِی
که منم دِ کافر کیږم خلاص به نه شم په توبو
دَ نرګس یو ی کښ پیلے د سپو ږ مے دَ شغلو جال دے
په کښ پروت یو لیونے دِ چه مجنون دے که بلال دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه، چه تول عمر ماشوم وے

بے پروا لکه لولو وے په ګلونو ګرزیدلے
اوچه تول عمر ماشوم وے، په بلا نه اوریدلے
دَ دنیا دَ اوږو ستر ګو، بے خبره ګرزیدلے
چه په ځله دَ جانان نه وے، دَ فراق و ته غمزلے
بې پروا لکه لولے وے، په ګلونو ګرزیدلے
بے خبره چه آدم وے، دَ رازونو دَ هوا نه
نه آشنا مجنون اوده وے، دَ غمونو د لیلیٰ نه
اوچه حُسن خبر نه وے، دَ خپل حُسن دَ غوږ ځنګه
دا زما زړه نا آشنا وے، دَ دے بنوبد وَ دَ جنګه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوشه

اودَ بنده مثال لکه دَ خس دے
تودشی لوګے وګړی رنا کړی جوړه
لمبه شی وسوځی خاورے ایرے شی
بوده اَبئ پرے ژړا کړی جوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تہ اوزہ

مجنون وے لیلیٰ پوے نہ شم — چہ تہ سبہ نے او کہ زہ
بلبل گل تہ پہ خندا شو — وے داخہ وائی داخہ
کلاب روپہ نیاز مسکے شو — وے کہ زہ یم او کہ تہ
تہ نے زہ او زہ یم تہ — فرق زما او ستا دخہ
ھغہ چہ فرق لری زہ نہ یم — نہ پرے پوہیږو تہ او زہ
لیونی کہ سر را پورتہ — وے جواب ولے دَ خہ
صوفی خان کہ دیر کړے ستړے — کہ د سبو نہ سبہ شے تہ
خو دَ عرش پایولہ نہ حُی — دھاؤں ھاؤں چغے دَ خہ
لیونی ستړے کړے سبکتہ — وے لیدشین روکے وا سبہ
وے اے زما دَ روح خاوندہ — چہ دَ سبہ دے او کہ زہ
د نسیم یو چپہ را غلہ — خُلہ زما خُلہ دَ وا سبہ
تے پہ خپلو شوند و سبکل کړے — دوارہ خُلے پہ یوہ خُلہ
لیونے لا لیونے شو — دانے وے بړے کا تہ
ھیڅ پہ پتہ دِ پوے نہ کړم — چہ تہ خہ نے او زہ خہ

(۴) پوہیږو ۔ پوھیږو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زرینے په کیدو

اوه یو ذره د نور وه — شوه دریاب کښ د خښت په ډیبه
په خوبونو د خوانئے کښ — یو شعله د نور پیلے
دا نرئے د هلال شونډے — دا د دوو ستورو رنا ده
داد هغے خوب تعبیر دے — چه وئو ما اوتالید لے
دا هم کل دے هم بوړاد — هم ساز و نه د بلبلے
دا چه ستا نیاز بینو کوتو — د ازل څانګے ته لاس کښ
دا کلاب نئے ترے راواغشت — په نور هر نو لمبید لے
دا چه ما غمګینے ستر کے — په ژړا کړے بره پوره ته
دا زما د غم جواب کښ — میپور مئے کل دے رالیږ لے
دا اوبه د واوجینو دی — د دریاب په طمع دریږی
دا هم زه یمه هم ته نئے — هم زما او ستا خو بونه

د ته جور ترے اباسیږ کړے
په کلونو کښ بهیږ لے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډے وډے

وږم ورکړه نر ملګے له اوشپه م ورکړه ستورو له
ځان له چه کم عقل شوم، شوم هله اوښیار نورو له
ستر کو دجانان کښ کله کله دکل پا نو کښ
زه نے هر ځانے وینم شیخه جوړیږي جمات نورو له
لوے جنجال نے جوړ کړ چه نے ویش د نصیب وکه
دومره رحم سپینوله او دومره عقل تورو له
واچوله نیک تالی ملا بابا په خیته مو پشو
زړه د غریب ستړو وو په تلو جنازه وسپورو له
دا عجب انصاف د ساقی ستا په میخانه کښ
غوږ و د غوږو د ریاب او څاڅکے نه ځی نورو له

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خندا او ژړا

د ساقی لاس کښ شراب دے
یو د غم یو د خندا
ما پیاله تشه نیولے
ستا د فضل په سودا

اے ساقی چې کم د خوښۍ په خندا خندا نه را
لیونے یم کار م نشته په خندا او په ژړا
زه یم ستا د ستر کو بنده تر دے نه یم د خندا

دا پیاله م که لبریزه
که خندا وی که ژړا
خو چې تر دے م پرے نه زده
ستا د حسن میخانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه د مستئ نه
هستی جوړیږی

پورته سپوږمئ چه رو رو کمیږی
ژوند ئ پخیږی غم ئ زیاتیږی
دیر ارمانونه پوره اولږ نیم کړے
چرته محل یو نیم دیرے جونګړے

ستاره کښ شرنګ هغه د مانبام نشته دے
سرور په ستر کو کښ د خیام نشته دے
د نور شغلو کښ شفق غرقیږی
چه د مستئ نه هستی جوړیږی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وډه مُلاّ

ماته یاد چیلے ګناه که تانه هیر چیلے نیلے که
ماجانان که دلربا که تانکے او نا تکے که
مادچیلے مستے تاج که تاذچیل جهل لکے که
ماادبیارد جهان پلار که تاجولاد ویتکے که
ماترے مینه مستی جوړکړل تاکا نه په دوه چکے که
مادحُسن سمندر که تاشوقی دَ مسلکے که

نواوس وایه ملا ته
چه نے تنخوښ نے که نه؟

نه په ایونتوب ترفلسفی کړل څه جوړه نه فلسفه ترځه کړه جوړه لیونی
دا کړه وړه دنیا کوه وړه وانه ده بویه دومره پوهیه بویښت دَ خوار غنی

دا دستور روشمار دوخت تلل دَ سازلید
سه خونتولا دے چه نے ډیر اوشوکنی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

ژوندم دوب دریاب د رور وخورشو سمندر کښ
خاخکے روک دریاب کښ شو په طمعو د ساحل
بخت کښ د سیلاب دی په مستئ په چپو تلل
نه وړځی دریاب له غونډیدل او اودریدل
دے لهړ د سازله تله ژوند ون او دریدګ دے
زیړے د ماښام وی د سحر راځلیدل
کډے دے چپے کړه د ابد مستانه تال ته
او کړنګ ره سازے تار خانو کښ د ازل
لاس لیونے لاړ چرته د نور شغله کښ دوب شو
خاخکے روک دریاب کښ شو په طمع د ساحل

اے دانګو ر ښځو رے اول چه را غلے به تہ
په ټول محفل کښ به دِ خندا بر سیره کړله

او اوس چه را شے تہ درد او تیاره راولے
رنا دِ کمه کړله ژړا دِ دیره کړله

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

عشق

سوزنه دے عشق سازنه دِعشق ، آه اوګریان نه دِعشق
مسته رنګینی دانه ده . غم د جانان نه دِعشق
خوب د خوانے نه دِ ، د خوبونو ارمان نه دِعشق
مینه د ملیارد ستر ګو ، وخت د خزان نه دِعشق
تورتش د تیارے ډک ، د تیرو بیابان نه دِعشق
مست د امیدونو ، یو د سراب روان نه دِعشق
ستر ګو کښ که راشی د شفق سره د خمار
عقل له که راشی د سپوږمۍ د رنا تار
دے مستانه زړه له یوه حوره د تاتار
دا د مستۍ حد دے اود حد بندیوان نه دِعشق
مسته رنګینی دانه ده غم د جانان نه دِعشق
عشق یو وجد د رب دے په وجدونو انسان کښ
یو د مینے ساز د زړه په سوی قبرستان کښ
روح د روکی کل د سپرلی ستر ګو د خزان کښ
مرګ عشق ته حیران دِ خو مرګی ته حیران نه دِعشق
خوب د خوانۍ نه دِ د خوبونو ارمان نه دِ عشق

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مردان مارچ د باچاخان

راشه اے خوشحال بابا اے خالدہ اوچکورہ
پاڅه خلک مه تغنی دا تمامنه اوبینه

جنگ لهدے منصور پوان
توپ اونه توفنگ لری
نه د توږو برق لری
نه د زغرو شرنگ لری

زور د دښمن نه وینی دا سے لښونے روان
دار اورسن نه وینی داد مستانو خان
دا د پښتنو ملنگ څه بادشاهی ننگ لری

جنگ لهدے منصور روان
توپ اونه توفنگ لری

سپین مخ د لیلی وینی دشت بیابان نه وینی
زړونے د یوار مانه ډک غم اوارمان نه وینی
سرے دباتو ستړکے نے مینه رنځهار نگ لری

جنگ لهدے منصور پوان
توپ اونه توفنگ لری

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج ئے دا زغو په سر — مست لکه مجنون روان
نوم د پښتنو کهنی — زوئے دِ د پښتون روان
مز، داد نرانو خان — څه غیرت او ننګ لری

جنګ له دے منصور روان
توپ اونه توفنګ لری

هرئے کینبود خاورو کښ — مرګ له ئے سینه ور کړله
د پښتون د سر صدقه — خپله وینه ور کړله
وے هر څه م دتام دِی — والله، هر څه چه ملنګ لری

جنګ له دے منصور روان
توپ اونه توفنګ لری

اے د پښتنو بچو — دا میدان م هیر نشی
سپین سهے د وینو دګ — هغه خان م هیر نشی
پروت دے دلته خاورو کښ — دا مکان م هیر نشی
پاڅئ ننګ پرے اوکړئ — خدایږو دیر په تاسو ننګ لری

جنګ له دے منصور روان
توپ اونه توفنګ لری
نه د توروبرق لری
نه د زغرو شرنګ لری

---

(۵) مبادا. مبدا خو، خام خاو، مکام. مکان خو.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوښتے

دَسپرلی شپه وه مسته مستانه ستوری کیدل پیر روښانه روښانه
سپوږمۍ ولاړه وه ښکلے حیرانه لیونی سوال اوکه دَخپل جانانه

رنا مِ پوهے له دَ لا مکانه را
مستی مِ ستر کوله دَخپله خانه را
دَخپله خانه یارا دَ خپله خانه
لیونی سوال اوکه دَ خپل جانانه

ناکاه برق شو دریاب دنور راغے خه په مستے راغے خه په سرور راغے
هستی شو کونکه مستی کو یانه لیونی سوال اوکه دخپل جانانه

اولیونی وریته ډیر کے که لرے
ډیر په خوارے پکښ خاشو یوښتے
نوډک دَ خانه وَ ډک دَ جهانه
لیونی سوال اوکه دَخپل جانانه

دریاب دَنور لاړه خیشت او نالاړه اودَ جانان مستی جانان ناله بیا لاړه
لیونی پاتے شو خیر ے کو یوانه دَسپرلی شپه وُ مسته مستانه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال وجواب

لیونیه مکه څه ده — مُلا کور دیو عاشق دے
کوتهنئ دی کښے پیر — دهمو رَب خالق دے
لیونیه ایمان څه دے — مُلا دا دے پوخ گمان
دَ یو خوب په زړه لیدل دی — دَ وصالونو دَ جانان
لیونیه جنّت څه دے — مُلا ستا جنّت پیتی دے
او زما جنّت وصال دے — یو خمار یوه مستی ده
لیونیه حوره څه ده — مُلا سپینه لوڅکے ده
یوه کړښه دَ شفق ده — دَ څنډا بُرُبُرۀ کلے ده
لیونیه نشه څه ده — مُلا دا په سیل وانه دی
د مستئ رنګین محل کښ — دا وانه ننوانه دی
لیونیه چه نموخ څه دے — مُلا خاورے بنکلول دی
دَ جانان کوڅے ته تلل دی — دَ اُمید ارمان کیدل دی
لیونیه سجدې څه ده — مُلا ځان خاورے کول دی
دَ مستئ دگلو هار — دیار څپو کښ اچول دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونیه ژوندون وخته دے ملا نه یمه ژوندون

دازما دَخوب لیدلے دی دَ سبا او دَ پرون

لیونیه وصال خته دے ملا خیشت کښ دوبیدے دی

دا په ستورو کښ ویلے دی په سپوږمۍ کښ خوریدے دی

لیونیه حُسن خته دے ملا لږ دِ خمار دے

بومکے مُسکے شان خیال دے یونږے دَ رنا تار دے

لیونیه جانان خته دے ملا روغ ورته نه کوری

لیونے (*) ے هیله وینی دَ تاو کړو با نوسوری

لیونیه ته ے څوک ملا نه ده دَ چا ارمان

نه یو کل دَ چا دَ کوتو په قدمونو د جانان

چه ے خودی ډیره شی دَ خودے رنگ ورکی

یاد بوډا توب له هم د خوانے نه رنگ ورکی

غم چه ډیر زور اوکړی د خوشحالئے په شان

د ژوندون تار که رقصانه شرنگ ونکوی

ستر کے چه تشے شی خوبونه ډک وینی

په تش کاغذ مصور مستانه رنگ وکړی

سحر له شپه ورکوی شپے له سبا ورکی

دَ فلسفیانو سر له ورنگ ورنگ ورکی

(*) هیله = امید.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے دَلیونیانو نیکہ

اے دَلیونیانو نیکہ حسن کہ وفا نبہ دہ
برخہ دَ مجنون نبہ دہ ، کہ برخہ دَ لیلیٰ نبہ دہ
وے اے زمانبچیہ ، دَ دلبر دَ خُلے ھوا نبہ دَ
یخہ نرمہ لا نبہ دہ ، تیزہ ګرمہ لا نبہ دہ
تاو دمخ دَ پارہ لوبتہ ، سرہ رنګینہ لا نبہ دہ
زیرہ نبہ دہ توږہ نبہ دہ ، تکہ سپینہ لا نبہ دہ
نوائے زمانبچیہ حُسن نبہ دے ھم وفا نبہ دہ
برخہ دَ مجنون نبہ دہ ، ھم برخہ دَ لیلیٰ نبہ دَ
نبہ دہ فقیری نیکہ ، کہ نبہ پیرہ دنیا نبہ دہ
کل صنوبر نبہ نبہ دے ، کہ خُلہ دَ محبوبا نبہ دہ
وے اے زمانبچیہ سور عقاب لہ دَ غرہ نبہ دے
کل دِ صنوبر لہ نبہ ، او ګل لہ صنوبر نبہ دے
جام لہ قلارے ، او سمندر لہ طوفان خوندکہ
ستر کولہ مستی خوندکہ ، او زرہ لہ ارمان خوندکہ
نوائے زمانبچیہ فقیری نبہ دہ دنیا نبہ دہ
تخت دسلیمان نبہ دے جوړہ دعیسیٰ نبہ دہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهید

اے شهیدہ! اے عاشقہ اے بچیہ د مصر
پہ خندا جاناں لہ لاہ ، دوب دریاب کښ شوے د نور
نادانان در پسے ژاړی ماشومان د تہ مجنون وئ
لیونے د تہ پسخیږی اے ایرے د کوہ طیر
ننګیالیہ سرد ورکہ د یار خپو کښ دلوے کہ
اوس یے کوہ مسکے سترګے بنکلے د کے د غرور
مار اور پے تالہ نہ دی دسرو کلو امیلونہ
د جنّت بلبلان څہ کئ د دنیا د باغ کلونہ
تاکړے خپلے سترګے خاورے چہ زما پرے شی روښانہ
تا قصہ زما د درد بـرہ یوڑہ تر آسمانہ
ستاد وینے څاڅکے څاڅکے چہ تاتوے کړہ د آرمانہ
ماتہ سرہ دیوے بلیږی پہ کوڅہ کښ د جانان
د دنیا تاجونہ څارشہ ستاد بختہ ستاد شانہ
د لیلیٰ پہ ژنګون پروت نے د مجنون شیدے کړ یوانہ
مار اوری تالہ نہ دی د رامبیلو امیلونہ
د جنّت بلبلان څہ کئ د دنیا د باغ کلونہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

منصور

منصور یو لیونے وُ د معشوق اداب ئے ځیر کړه
منصور یو لیونے وُ د مستئے شراب ئے ډیر کړه
وے مستی دا زمانه ده د جانان دستر کو نور دے
زما د خُلے خبرے هم تورات اوهم زبور دے

دا رنګ زما دستر کو نه دے رنګ دے د جانان
دا شرنګ زما سینه کښ د خپو شرنګ دے د جانان
منصور چرته لیدلے د مخ نور و د جانان
دا مست چه پرے منصور شو دا سرور وُ د جانان

وے د حُسن ارمانی نه یم زه د حُسن سمندر یم
زه مست لیونے نه یم ، زه مستی د بحر و بر یم
دا رنګ زما د ستر کو نه دے رنګ دے د جانان
دا شرنګ زما سینه کښ د خپو شرنګ دے د جانان

عالمه را شئے واوری چه زه نور او زه رنا یم
زه کل یم زه بلبل یم ، زه وصال زه محبوبا یم
منصور خو څوا پوب شو دا تش نور دے د جانان
دا نه دے منصور نه دے دا سرور دے د جانان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر پرے ملیان(۹) شووے منصور خان ته الله وائی
دا کفر دا غرور چه ئے هر چا ته برملا وائی
وے کافرہے شی سنگسار دِچه پلیت نه شی جهان
بادشاه د لیونو ئے زولنو کښ که روان

منصور دے خلقه واوری چه نه نوراوزه رنا یم
نه کل یم زه بلبل یم، زه وصال نه محبوبا یم
منصور خو پخوا ډوب شو دا تش نور دے د جانان
دا نه دِ منصور نه دِ ے دا سرور دے د جانان

(۹) ملیان: ملایان.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه‌ؤ

دا په ستړکو ډ مریم کښ چه ژړا وه که خندا وه
چه ئے سور په صلیب اولید د عیسیٰ ډ زلفوول
ذاځه او وا ئیمه تاته ، چه رحیم ئے که رحمٰن ئے
چه په خاورو کښ کړے خاورے د کلاب ښکلے اوږل
دا مستی وه که معراج وؤ د اجهان ئے چه روښان که
که د نور دیار د ستړکو د ریا بونه بهیدل
چه دا کفر که ایمان وؤ ، چه دا نه وه ئے لیونے کړم
چه دا غم ږم په خندا شوکه مستے ږم اوژړل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیدایش

او ما څان له سازکه پخپله جوړ
د خپل خوب نه د خپل خیال نه
د خپل غم نه د مستئ نه
د خپل تول نه د خپل تال نه
او ما څان له یار که پخپله جوړ
د خپل سوز نه د ارمان نه
د خوبونو نه د رنګونو نه
د ګلونو نه د خزان نه
او ما څان له غم که پخپله جوړ
د خندا نه خوشحالئ نه
د وصال نه د خمار نه
د بهار نه د لولئ نه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوماڅان له ژوند که پخپله جوړ

دامیدنه د رنا نه

د تیرونه د ښیرونه

د غمونونه د سودانه

اوماڅان له مرګ که پخپله جوړ

د ژوندون نه د مستۍ نه

د سپرلی د زیړو کلونونه

د لالونونه د ځوانۍ نه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډے وډے

داخوک دی؟

دَچانه خفه دے اوچاته پقار دے — په ژمی واوړه شی په اوړی انکار دے
پلار نے ژوند دے خوړ نخپله پلار دے — پکښ وی سقر په زړه آباد کل او کلزار دے
په بډه نے پیاز دے خو په سر نے دستار دے — پلاس کښ نے تیغ دے، په خُلک کښ بنامار دے
د شیطان مرید دے خو د خدائ تابعدار دے — خبرنے یو نه منی، خو نے یار دے

په جرمست لکه خر، په سر کلک لکه غر
په زړه سپے لکه سپے، مریږا قریږا
په خوئ خوږ لکه کوک، تش ایمانے دپوک
یارانه نے لیقړے لکه سخا ایریږه

کله ماول د پیشو، کله غپ د خړو — کله غم د زهرې، کله بربر بربړو
کله شرنک د لیلئ، کله رنک د مُلا — کله شپول کله زور کله کل د لالہ
کله پرس د سونډ، کله سویت د دموس — د ده شان د حاتم او ایمان د چړوس

د ده ست د کونکټ مریږا قریږا
یارانه نے لیقړے لکه سخا ایریږه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لنډے

تو تو توخړ او تته تته

ارمان زمالنډی له فیرنګ شنه جوړ کړه کته
خبرے اوس پښتے کئ شمله ئے ده بے بته
یونوے اسلام راغے د خانانو د مالته
چه خوښ ئے دے موتر که هجرت د جماعته
تیز کړئ په پټرولو کله بره کله بنکته
په بله تماچه کړئ یرین ی د پنډ ته

اوه تته تته خړ، اوه تته تته

ارمان زمالنډی نن په اسلام کړے د ډنګ
ارمان زمالنډی سخکال (*) کړلی دی باد رنګ
ارمان زمالنډی کښ دی چالونه رنګ رنګ
ارمان زمالنډ یه کله پلن شے کله تنګ
ارمان زمالنډ ے وی کله بره کله بنکته

اوه تته تته خړ اوه تته تته

ارمان زمالنډ یه لرے خیته دهاتی
په نسل فتح خان او په خویونو جلاتی

(*) سخکال: سبز کال.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنڈے زړه کښ زړه کینه ساتی
ارمان زمالنڈے ننن کی کار و نه خیراتی
زمالنڈے حاجی شو نه څپیړه وینه لته

اوه تته تته خړو او تته تته

زمالنڈے ښه شوے دے غیرت د مسلمان کښی
مړو ویجنت کښی څرونڈله د اجهان کښی
زوی له نوکری کښی او خان له پاکستان کښی
د استاد رقیب دلال به ننه تاله جانان کښی
په بلې تماچه کړې یې د پښتانه

اوه تته تته خړو اوه تته تته

ارمان زمالنڈے چه پښتون لکه زمرے دے
په لنډه کښ ښه د ډوند دے خوکړ بوروکښ نرے دے
په فکر افلاطون دے په اخلاقو بنا پیرے دے
په عقل لږ میخین دے خو په ژبه چرچرے دے
ارمان زمالنڈے دے ډک د چل او د حکمته

اوه تته تته خړو اوه تته تته

الله زمالنڈے ننن د فیرنګ نه کښی حیران
الله زمالنڈے کښی هم مصر ایران
وئ نیت م د کعبے دے خولند ن ته د روان
هند د فیرنګو ته خپلے نه لکی هندوان

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان زمالنډے نه باکوکړے او نه بښته
اوه تنه تنه خړو اوه تنه تنه

پرون زمالنډے چرته ولاړو په ډیران
پرون زمالنډی چرته خوږل پرکۍ توتان
پرون چه جهان روان (*) وو، وُ زمالنډے ودان
پرون دَچا په دین وُو چه دانن شو مسلمان
زما دَنباد ئې مشوه ستاوی غم کښ کمه پته
اوه تنه تنه خړو او تنه تنه

زمالنډیه واوره دَبوندئې لګۍ دِ خارشم
دښمن م دَدښمن شه نوزه یار به ستا دیارشم
که خُے دَ جانان کورته زه به ستا دخپو غبارشم
ته زارشه په وطن نوزه به ستا دَستر کو زارشم
تش منه خوره قسمونه ستا شه تورې ژبه تنه
اوه تنه تنه خړو اوه تنه تنه

ته نوم دَ اسلام اخلے په اسلام پوهے خندا کړے
مستی هم دومره بویه چه دے قام پوهے خندا کړے
دعوه دِ دَعاشق ده دیار بام پوهے خندا کړے
که سم نه شوے روان چوکه به دې وُرمه بنسکته
اوه تنه تنه خړو اوه تنه تنه

الیکشن ۱۹۳۵ء

(*) روان = دران ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسلمان

مسلمان هغه بنده دے ، چه نُه شُنبے تل مسکے وی
ستر کے پکے درنا ئے ، د خُلے یو په سل مسکے وی
سپین ایمان نُه لکه تندے ، بے دُعا نه هرڅه سیزے
د جانان د دیدار وتے نه لغے ول په ول مسکے وی
چه نُه زړه پک دآرام لکه ونخ د سمندر وی
خُله نُه پکه د کلونو لکه باغ د صنوبر
دا سے مست دا سے سرشاره لکه مینه د کافر
اراده کلکه بے کرکے لکه څوکه د خنجر
د وجود هر څا څخه وینه سره په مینه د لبر
په سینه کښ نُه رنا وی لکه څرپکه د جوم
په ژړا کښ نُه تاثیر وی په خندا کښ نُه اثر
مت نُه بر په هر څه بر وی لکه مت د سکندر
د زړه نور نُه لکه شمع په اوږه نه بل مسکے وی
د بلبل د خُلے آواز نه د غُټے د کل مسکے وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ساقی

د ساقی لاس کښ شراب دی، د خندا دی که د غم دی
چه د سوز او که د ساز دی، د مستۍ که د ماتم دی
ساقی ستر کې مهربانی، خو بې کړې په ستم دی
د ساقی شونډې و مدهوش کښ خیالونه د کوم دی
دا تپوس زمانه مکوه، چه دا پیر دی او که کم دی
دا نشه هم د صنم ده، دا شراب هم د صنم دی
میخانه هم د صنم ده، مستانه هم د صنم دی
زه ئې څکمه ستا په نوم، د جمدو ن که د عدم دی
جام په سر سر په سجدو یم، یو قطره د خمار غواړم
د دلدار وصال به کیږي زه تش خیال د دلدار غواړم

نه خوشحاله د وفا کړم، نه خفا د (*) کرم ستم
څوند یو تال د چه غږیږي، کله زیر او کله بم
دا یو دوه کړنې څوندون، په خندا خندا تیر که
دا جهان خدائی جنجال دے، کله وران او کله سم

(*) خفا ء حصه.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوے کال

خاوندہ بیا سپرلے شو دنیا یو کال وارَوُ
چا پہ ژړا وارَوُ ، چا پہ وصال وارَوُ
چا د نتو پہ شان پہ ساک او دال وارَوُ
چا د صاحب پہ شان دَبل پہ مال وارَوُ
څوک پہ سفر لارل بلخوا لے مال وارَوُ
چا د جانان پہ سَر دَ خاورو شال وارَوُ
چا دَ کُنکرو پہ شان پہ شرنکا شرنک تیرکہ
چا دَ سپوږمئے پہ شان پہ رنا رنک تیرکہ
او غنی دا هم رہہ لکہ پخوا وارَوُ
څہ ئے پہ خندا وارَوُ څہ ئے پہ ژړا وارَوُ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه

زما بخت د شمع بخت دے یا به مرمه یا به سوخم
یا به وینځ له د ډ ډ ریاب ځم یا به پاس په چپو خوځم

عجب زه عجبه لاره عجیبه کاروان روان دے
مار سوتی پراؤ له بیائی که زه ځمه او که نه ځم



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپرلے خلاصیږی

تاؤ دغرمے لاړه ماسپښینے شو　　لکه دمنی یخ بادد سینے شو
سره ږدستر کو دپیر خود زړه کم شو　　اودفراق استاز مخ دهنم شو
سازکښ سره نه نن دخاموشئ خیژی
دهوش جنډے په کور دبیهوشئ خیژی

دشفق سره رنګونه شو لړه توره　　بادشاه شهونکے شو دخپله کوره
اوستارکښ شرنګ هغه دمابنام نشته دے　　سره په ستر کو کښ دخیام نشته دے
څپے درقاصے سرے خوتال ئے هغه نه دے
بانګ د بلال هغه بلال ئے هغه نه دے

په جام کښ کوټ کوټ شراب کمیږی　　سپرلے خلاصیږی ګلاب کمیږی
اوس نا دشمع کښ دسحر نور راغے　　باغ دبلبلوته نوم د باتور راغے
دغمو ستر کو له خیال دخزان راغے
لړۍ مستی لاړه اولړ ارمان راغے

اودفراق سورے په وصال پریوته
ستورې راوختل اوهلال پریوته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جیلخانے خوب

(۱)

خوب وینم عالمہ کہ ئے څوک راکړی معنیٰ
پروت یم سرِم اینبی د خپل یار په زنګانه
خوب وینم چه پورته په هوا لکه دباز شومه
کینا ستم په بام د محمود ستر کے د ایاز شومه
پورته د خاموش زړګی نه خوږ د مینے سازشومه
خوشحالم په حورو کړه د دې موزمانه

(۲)

خوب وینم چه ناست یم د جیندی (۱) په ځیه غاړه
شاه م سویلو کښ لکه سره شمع د لاړه
سهے شونډې مسکے شوے مانه ئے وچه ژاړه ژاړه
څکه د زړه وینے د اشراب دی مستانه
خوب وینم عالمہ کہ ئے څوک راکړی معنیٰ

---

(۱) "جیندے" د هشنګر د مینځ هغه سیند دے چه نهرونه
اته واړه کلی ئے په غاړه پراته دی. (غنی)

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(۳)

خوب وینم چه باغ دے دگلونو اوما بنام دے
سرے ستر کے ساقی دساقی سرہ کو تو کښ جام دے
لاس په ستار پروت لیونے مست لکه خیام دے
اړئ پرے نرے نرے د مینے افسانه
خوب وینم عالمه کړے څوک راکړی معنیٰ

(۴)

خوب وینم چه سپینه سپوږمئ پاس په خندا غلله
ماله محبوبا په شرم شرم تر خوا راغلله
شونډو کښ شراب اوپه کوکئ کښ قضا راغلله
سُرخمارے راکه پیمانه په پیمانه
خوب وینم عالمه کړے څوک راکړی معنیٰ

(۵)

خوب وینم چه پټ شوم په نسیم کښ بهر لاړمه
خواله د جانان لکه د مینے نظر لاړمه
ستر کو د دلدار له لکه خوب د صحرا لاړمه
یو شرنګ کښ م لوټ کړه د عمر و نو خزانه
خوب وینم عالمه کړے څوک راکړی معنیٰ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(٦)

خوب وینم چه نړه لکه لولکه بې سیل اووتم
پورته د نړۍ کس نه شوم په خوا د رامیل اووتم
ناوړ سیبې عارې دلیلۍ په امیل اووتم
پټ م ورته ووې سلامونه جانانه
خوب وینم عالمه که ئې څوک را کړي معنی

(٧)

خوب وینم چه پورته لکه چغه د منصور شومه
یا یو مټې خاورې وم یا لوئې دریاب د نور شومه
خو بانګ د سحر اوشو نړه را وینې شوم کړوکور شومه
خوب یوړه خو بونه راجمد(*) ئې شوه نه مانه
وئ پریوزه لیونیه تیره وه د جیلخانه

غنی

حیدرآباد جیل - ١٩٣٩ع

(*) جمدے، ژوندی۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کډے وډے

واوره فلسفه دَ لیونتوب دَ لیونی نه
دا آیات خونه دے خو قرآن کښ ماویلے
مرګ او ژوند کی یوه دوه ، غم او خوشحالی یوه
ژوند چه چیرته نه وی مرګ چا هلته لیدلے دے
زړه لکه دجام دے خوشحالی غم ئے شراب دی
تبدیے به خصمت شے تا خو غم ته نسکوړکړے دے
خوند که ئے جدا دے ، دوه نشه یوه دَ دواړو
دواړو کښ خمار لږ دَ ساقی دستر کو تلے دے
مرګ کښ پټ دِ راز دَ مرګ ژوندی پے نه پوهیږی
دا آیات خونه دے خو قرآن کښ ماویلے دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قید

دسحر تیل اودال — دمانبام دان اوتیل
نه کوتکئ په کټ کښ — قلپئ (۱) دعطر اوفلیل
دسحر دوه چپاتی — لکه زړے چیرے
داسے خوابږه اوپاسته — لکه دخرو تغرے
چائے لکه یخه سنوروا — په تروے کړے توږه
پیاله د زیرو دولچه — اوس راشه خوند کوږه

بستر دبرک تړپړی
سوزنئے توږه کمبل
اویارانے لدد شپے
څار به څار به کهتمل

محفل دښکلوخلقو — قول بزرکان شریفان
یامتهیزک کښ کپان — یا اجرتی قاتلان
چه نور زیړے شی هیله — ما په پنجره کښ کړی بند

(۱) دجیل چکئے کښ دبولو لوښه هم پروت وی.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه مږ په قطار

په بلا ره کښ کړی بند

تمامه شپه ګرزی

دم په دم کې تفتیش

ته به وے چرګ یمه زه　　یو به م سی پناپیش

د بندید و سره　　همه دنیا د بهر

یو توره لره شی　　کښینی م ان په ځکر

د جهان تول غمونه　　لکه سیلئ راشی

د زړګی سرله بدې　　لکه ګولئے راشی

اوچه ارمانونه پکښ　　لا د لولئے راشی

لکه د مړی په کور　　چه سره دولئے راشی

اوچه دے باغ دګلو　　ما سنبام رایادشی

لاچه دِ ډک د مستئے　　سور جام رایادشی

که دا خدمت وی دقام　　زمونږ توبه ده

دا دال اوتیل مضمون

ګرانه قصه ده

اولا په دے کښ هم

غنی غزلے وئ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعشق اوبۍ دے مزلے

په بلے بلے وئ

ولے په تشو اوبو

شاعري کړانده

چه تاؤ دَ اورنه وی　　زرکری کړانده

قاضی(۱)، صاحب وئ قرآن　　سحر، مابنام ماژیکر

ځان له ئے کینو آواز　　اومالہ ئے خوږ که سر

که صیله غږ کوو　　اوس راته وائی آیات

قهر په مست اوشار　　رحم په صوم اوصلوٰت

څه اوکړو صبر به شو

داد الله نه ده

ولے په تشو اوبو

شاعري کړانده

غنی

حیدرآباد جیل ۱۹۴۸ع

---

(۱) قاضی عطاء الله وزیر تعلیم زمادحیدرآباد سنده دَجیل مرکړے دے. قاضی صاحب
دپښتو شعر پهیامی حیث اوبلکوال (۱۹۵۳ع مړ) قاضی دپښتو تاریخ م بکاوی چه خلور
توکونو چاپ شوے دے.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاورے

نه منم نه منم یاره مرګ انجام دهستے نه دے
خلا صیدل شراب په جام کښ اختتام دَستے نه دے
چه ما بنام دکمے شپے وی نو دمغے سبا هم وی
چه رنا وی تیاره وی. چه تیاره وی رنا هم وی
که یو نه وی بل هم نه وی، او چه وی نو وی به دواړه
دے دریاب له چرته شته دے لرے بله یوه غاړه
زر سحره دبهار دی یو ما بنام کښ دَخزان
شل خمونه رنګ وعطر و یو دانه کښ دَ رڼیا ن
چه یوه غُنچنۍ شی خاورے تخم وکړی روغ کلزار له
دخپل رنګ او بوئی پناه و نه شکرانه یوسی بهار له
دا جهان دنور او سوز، ولے روک شی چه ساز چپ شی،
چه جانان په مستو ستر ګو کوتے وروړی ستار له
په قبرونو کښ پرتے دی لاس او خپے شونډے او ګوتے
څوک شی قبر جوړ وے دے سرو ستر ګو خمار له

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جام ئے مات شو میخانہ کښ لیونے تے غلے پاځید
زړه مے ډک د ښکلې یورې دے روان کوځے د یارلہ
ساقی نوے جام راواغشت په سر و شونډو کښ مسکے شو
بل عاشق وتہ لاس ونیو شکرانہ تولئ دلدارلہ
ملا بے سُرہ سرودہ تش کند دل دمرکی یورې
خاورے خاورولہ لاړہ کنده اوکنوئے خوارلہ

غنی
حیدرآباد جیل ۱۹۴۸ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخوبونوجهان

زما په ولیښه دخوبونو لوی جهان نه
په شپه کښ راشی په وخ بیالاړشی له مانه
دَستورو باغ پیدا دخاورو دانسان نه
نښیسته دګلستانه راځه ماله راځه

دا ینې عکسه ولې بل خواته ودکیږے؟
سوره لوګیه آسمانونوکښ پټیږے
دصحرا سینډ چرته ځے کوم خواغیبیږے؟
وچیږے وچیږے راځه ماله راځه

دسیلئ اَسه دآسمانه غورځول کوے
اول دا روشے بیا دَزړونو ماتول کوے
دَیو کار نه ئے اوبه ما کا رونه سل کوے
وژل کړے وژل کړے راځه ماله راځه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَے بادسبا

تہ څہ خبرے اَے باد سبا ۔۔۔ څہ دنیا کا نے تالا کړے مونږ

هیریم کړے زلفِ خورے ورے ۔۔۔ زلفے جانا نے تالا کړے مونږ

هیرم کہ هغہ دَ نور سبا ۔۔۔ هیر مستا نہ لیونے ما بنام

هیریم کو کئے مینہ ناکے کړے ۔۔۔ پرون دے اړولے دَ میو جام

کے دے زولئے دَ نور ۔۔۔ څہ پہ خندا مونږ نو ستلے دی

سرے صراحی دَ رنا او ساز ۔۔۔ مونږ پہ صحرا اړولے دی

سترگے چہ وے دخمار دے کے ۔۔۔ مستے دژوند دشہ نگار دے کے

پور دشرابو پیالے دَ ناز ۔۔۔ شکلے دسُرا و سینگار دے کے

روکے شے مے شے، خاورے شوے ۔۔۔ یاد او ارمانے هم خاورے شوے

پا نہ کلاب او غُنچے څہ کړے ۔۔۔ غم دخزانے هم خاورے شوے

تہ څہ خبرے اَے بادِ سبا ۔۔۔ څہ دنیا کا نے تالا کړے مونږ؟

هیرم(*) کړے زلفے خورے ورے ۔۔۔ شونډ جانا نے تالا کړے مونږ

غنی

حیدرآباد جیل

(*) هیرم : هیڑمو ۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهذب

چه خراب م په سکر تو کړو پرپوس
او په مس م خرڅ کړو دین ایمان ناموس
چه م هیرے د پښتو د ملک قصے کړے
چه په سلک م کړه بدل د وطن بوس
چه په نوم د پلار نیکه به شرمیدلم
شوم فدا د مس دخولے مړید د بروس
سوت م واغوست جهالت ته په غضب شوم
مادر او پلار بابا اوس نړه مهذب شوم

۱۹۳۲ع



A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوداګر

عجیبه دا سوداګر دے — په لاس تیغ په سر قرآن
شنه قبائے دامام ده — ګلکے ستر کے د شیطان
په خکر لکه چنګیز دے — چلولی لکه ماهان
په خله خوږ د کلو باغ دے — په زړه سخا لکه دیران
غرمبیده لکه زمرے کړی — غریده لکه حیوان
پنجے دوبے په سر و وینو — سرے بره په آسمان

مانه وی چه خوانه راکه — ستا پښتو تورې اونګ
راته وی غیرت دِ پریږده — شه زما د در ملنګ
وی سره یت کړه کنی کړم به — په تا ملک د الله تنګ
وئی زه او بنیار لکه ابلیس یم — زه خوخوار لکه پلنګ
ته راکوزشه سنبکته کینه — ماله ړ د یار پالنګ
یا ما خدائے که سجدې اوکه — یا زما اوستا رے جنګ

وی دا تورې زما لاس کښ — ستا د څوند اختیار زما دے
ستا خمار غیرت او مینه — د دے کو تو سنبکار زما دے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داشملہ دننگ کړہ تیتہ — دیر تیرہ غوزار زمادے
دفرعون چنگیز وار تیرشو — اوس را غلے وار زمادے
شہ غلام دَدے غلام — پہ دہ دیر اتبار زمادے
خاورو ختوکښ پراتہ دی — چہ خورلے وار زمادے

کہ زما شوے زما خوانہ — کوہ دا دزرو تخت
پاس پہ دِ دَ پاسہ کینہ — خوشحالیږہ پہ چپل بخت
داجامونہ دَ شرابو — مسندونہ دَ زرو بفت
داسپرلے دا پیغلے مستے — ستادَ سپینے خوانئ وخت
داجنّت دعیش اوزور — بل خوا اوردا وړہ سخت
خوانہ زہ ساقی لہ وړہ شہ — کړہ داسړہ سینہ بالښت

ربّہ څنګہ سودا کړدے — څنګ ژوندون کړم جهان واخلم
څنګ نظر دستر کو ورکړم — او چشمے دمرجان واخلم
څنګ بهار او سپرلے مئ ورکړم — دلا لونو ډیران واخلم
دَدے سړو دطوق بدل کښ — څنګہ دین او ایمان ورکړم
دَ ریبار دَیرے څنګہ — بے خودی او جانان ورکړم

دا دنور او مستئ دِ ک سړ — پہ سجدہ کښ دم غلام تہ
دَ قصاب دَ چیچړو مینہ — څنګہ او بنایم خیام تہ
څنګ دبل دتالی پاتے — کړم چوکہ دمستے جام تہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګ دلدار په دنیا ورکړم — رقیب او خیژوم بام ته
دجانان خیشته سر څنګه — د فرعون په پښو کیږدم؛
نه دِ لیدے سودا کړه — تا د سړے وینے غوږ ونیک
په تیت سر باندِ نه ښائی — دا زما شمله د ننګ
د سر زر و تخت قربان شه — په آزاد کند د ملنګ
تیتو ستر کو کښ او چیږی — د سر او مستے رنګ
ستا شراب زهر و کوټ دے — خلا صول کړی د ایمانه
ستا ساقی د چکلے دے — په دوه نیمو پیسو گرانه

زه روکیږه سودا کړه — لیونی مونږ د دلدار یو
ته ئے اوبه دے دلا لو نو — مونږ ه اوبه ی څمار یو
نه ئے دم نه ئے دارو شته — مونږ په دا سے رنځ بیمار یو
ته مغرور ه په خپل زور ئے — مونږ په مینه کښ سرشار یو
راشه اوګوره فرعونه — دا دوهه د ملنګانو

په دے خاورو کښ خوږ دی
کپړی د بادشاهانو

غنی
هرک پور جیل
۱۹۴۷ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوکل

دے کوکل کښ م د ننه
هم دوزخ دے م جنت
دے کښ قهر او غضب دے
دے کښ رحم او راحت
دے کښ پروت یو سمندر دے
د نشے او د خمار
دے کښ پروت یو تهتر ین دے
د لمبو او د آزار
دے کښ پروت دے دومره رنګ
د سپرلی او د خندا
چه یو پرق نے پوه جهان کړی
د مستئ او د رښا
دے کښ پروت دے دومره رنګ
د تیارے او د ژړا
چه یو اف نے تور لحد کړی
د خندا د کهکه دنیا
دے کښ دومره شجاعت دے
چه د کل جهان مرکونه
یو نظر کښ تار په تار کړی
لکه باد د وړی بوسونه
چه په یوه باندِ راشی
زره تے غټ دے د منزک
دا سے رپی دا سے تښتی
دا د بوځا شکے تے کلک
او چه کلک شی دا سے کلک دے
لکه کا سے نے د فولاد
نه پے زړ تړے اثر کړه
نه پے زړ کا له فریاد
دے کوکل کښ م د ننه
هم دنیا ده هم قیامت
دا هم لاره هم کاروان دے
هم تدبیر دے هم قسمت

(۸) تے : سړی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرون پہ دے کښ قول داستان دے — د جزا او د سزا
خور پہ دے کښ لوئے جہان دے — د وصال او د وفا
دا هم باغ دے هم خزان دے — هم بلبل دے هم بہار
دے کښ سره نیازهین کاونہ — او د شنو او بوشرار
دا هم زهر هم زقوم دے — هم کښین دے هم نبات
دا هم تور دمرگ څادر دے — هم چینه ده د حیات
ده کښ پرون دا سے شراب دے — چه یو څاڅکے د هغے
په بد مسته او سرشار — کړی داواړه فرشتے
دے چه ځی په بره د رومی — شی جبریل ورته حیران
چه په بد و باندِ راشی — امان او غواړی شیطان
عجیبه دیم جور کړے — اے زما خدایه عجبه
بے د تانه نور د هر څه — د هسه یم مرکبه
دا داور او نور د ریاب — دومره لوئے لکه آسمان
دومره رو کے لکه څاڅکے — دومره لنا، لکه یو آن
دا قصه د سوز او ساز — ولے ولے څه له څه له ؟
خیشت او غم راز و نیاز — ولے ولے څه له څه له ؟

غنی
حیدرآباد حبسخانه
۲۳/۹/۲۸

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

جناب شیخ

زړه دِ ډک دے دَ خپل خانه
په کښ خاے نشته دَ یار

دا سے ډک نے د نیکونه
لکه ډک دَ مړو ښار

دوارِه ستر کے دِ رندے دی
دَ بل بلد دَ خان نه وینی

تل آئینه کښ خانته ګورے
د یار نه وینے سینګار

شُنبے ستا اوزګارے نه دی
چه صفت دَ ثنا وکړے

دخپل نور قصیدے وائے
په کوشه کښ دَ دلدار

دا سے ته په نیکے مست نے
لکه وو فرعون په زور

دریا نه دے نه تاو دی
لکه لوئے او تور حِصار

چه په بل کښ بدی وینے
څومره زړه دِ شی خوشحاله

دبل خیشت دے نه غلا ښکاری
ستا دتور تاریک جماله

دا شمکور راندے چه وینے
چه دغرے وئ غُږ زیږی

دا هم ستا په شان روان دی
دا چه پریوزی او پاخیږی

دا چه ته وړپورے خاندے
دا مجنون او دا مسلنګ

ستا قبا د شنو ریښمو
او دَ دوی شلید لے لنګ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داهم زوے دے د آدم د الله دگوتو جوړ دے
څه که دوب دے په تیږو کښ په شرابو کښ شور پور دے
دے هم څې په چغو چغو دے هم هغلته روان دے
ته چې ئے دکم په طمعو هم هغه دده مکان دے
اے چې دوب په فضل دوب ئے اے چې بره څې خوشحاله
دده شور چغې هم واوره داهم څان له وئ هم تاله
داچه دے پرې پرې مخ پریوزی تاته ښکیئے تیندک دلاړ ے
دادِ دے سرماتے ولیدے څکه ته روان او ښیارے
شیخ چلو د نیکو پکه گنهکار دے ستا اُستاد
ستا دعا د څان دپاره تاله دے دده فریاد
ستا د ښو دیوه بلیږی په سینه کښ څان د پاره
دده سرے لمبے داوردی د هم جهان د پاره
دے تصویر دے د آدم د څنتو او پریو تو

او په سوو وزرو نو
د پتنگ د الوتو

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۴۸ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



دخوبانو سره مینه
ده خوراک دزړګی وینه

چه دباڼے وی تندی کښ
تل په مخ وی ماه جبینه

زنګ وهلے توره چرے
تویوی نه ټکے وینه

قتل عام دهغے کار دے
چه ځلیږی تکه سپینه

دخزان رنګ دسرو زرو
دغنی یاره حسینه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساز

شونا پوله خوند اوستركو له رنگ
پوزے له بوئين د نرگس د لونگ
زړه له اميد او مستی او ارمان
غوږ له سرود او شنارا و شرنگ
ماله سرور او جمدون او نور
داخو آوازه د ژوند د رنگ
تق تق د اور تپ تپ دباران
آخ آخ د وصال اُف اُف د ارمان
وَنی وَنی د جنون وَخ وَخ د صنم
نانا ، اَو اَو هر وَخ د صنم
قت قت د خندا پرق پرق د مستے
شرنگ شرنگ د پانزيب چن چن د لبتی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

شر شر داوبو	شغ شغ د نسیم
بس بس د دلبر	بر بر د غلیم
هیں هیں د هنډ	شنګ شنګ د کولے
قر قر د چلم	پر پر د لولے
دُم دُم د دوپړے	تنګ تنګ د رباب
غر غر د پیالے	سخ سخ د کباب
چپ چپ د کوکے	پس پس د دلبر
چرچق د تارو	کوکو د کمتر(*)
بس بس د آشنا	بد بد سے روان

ایش ایش د اقلم
هاں هاں د ابیان

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۲۸ع

(*) کمتر: کوتره کبوتر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحب

زوے م راغے دیورپ د تربیته
جوړ سنبال لکه د نا وے پوتې ښکته
تر یوتندی پورې مخ نے وو نیولے
تا به وے و د لا تا نو د محلته
د دوډئ او د فیشن سره نے شوق وو
د یر نفرت ورله ورته د جماعته
لکه لو د پیسو کښ افلاطون وو
خو کتلو کښ غریب و بے همته
من چه ما ورته په فکر نظر وکړ
خر هم هغه و بس نوی نے وه کته

۱۹۳۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اور

گنهګاریم گنهګاریم هم د خدائے هم د دلداریم
بے وفا یه محبت کښ نفس پرست او بے اختیاریم
مینه مینه یه خوله وایم مینه نه لرم حیوان یم
نه م لوظ نه م قسم شته نه مین یه یو جانان یم
چه کم خائے خوانی اور ننګ وی چه کم خائے ګنګروشرنګ وی
چه دچا د تمبل تنګ وی نوزما وتنه غوږ خنګ وی
یو مکه د مسلمان وی دکافر یو بت خانه
هره ورځ زه بدله ومه نوے نوے میخانه
هم م مینه ده بے پته هم ګناه م بے وفا ده
چه م کمه مخالخ وی زه وم دا خمالیلیٰ ده
کله لاړ شمه جمات ته یه سجدے یه زارے پریږدم
مثل سجدے م کړے نه وی بیا دچا یه یارے پریږدم
یوسور اورم د کوکل کښ ماسوزی دننه بهر
نه دے یخ خونه دے کم شو چه دا اور دے که سقر
که ساقی د کوه قاف وی که شراب وی د شیراز
بس پیکه م ترے زړه کے شی چه معلوم نے کړمه راز

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ما بنام دی که سپوږمۍ دی — که وی راز او که نیاز
روح م تنګ لکه لحد که — که وی سوز او که وی ساز
دا زه څه پسې حیرانه — سر کړدان پریشان کړم
دا زه کم خواته روانه — په باغچه بیابان کړم
ګنهګار یم ګنهګار یم — آدم خورمه خپل ځان خورم
خپل ښایست خادرې کومه — اژدها یم خپل جانان خورم
دے په زړه دننه اورم — رودرو تن لوګے لوګے کړ
دے هیرے (۸) کړه سړه کلونه — شین چمن لوګے لوګے کړ
دے، دا اورمے خوراک کړ — نوے نوے امبار غواړی
نوے رنګ نوے محفل کښ — نوے نوے خمار غواړی
دے وغجن یم دے وغجن یم — داد قسمته کوم فریاد
نه یم تنګ زه د دے اوږه — زه په دے یمه آباد
زه به ده له خاشاک ګورم — که باغچه که بیابان وی
زه به ده ته لوګے کومه — که خوانی وی که جانان وی
داد ده په شنو لوګو کښ — زه اوربل د دلدار وینم
داد ده په لمبو کوږه — زه سپوږمۍ او کلزار وینم
دے زما په وینه پاتی — زه د ده په لمبو پایم
دے زما وجود او ساده — زه د ده وجود او سایم
چه دده پرق او شنار وی — هلته ژوند هلته انسان وی
چه دے نۍ دخاورو توپ وی — پند خزله د ډیران وی

(۸) هیرے ه ایرے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونے یم لیونے یم — نه م سرشته نه سامان
نه په مینه مستے پونے شم — نه په سود اونه په زیان
عجیبه بے دوره لاس ده — عجیبه بے حی کاروان
که قدم اخلم غوږ خیږم — که او دریږ مه تاوان
عجیبه غونډ شراب دی — چه نے څکم لا تږے کیږم
عجیبه من او سلوني ستا — چه نے خورم لا وږے کیږم
دا په زړه دنه اور م — که نے وژنمه دوکیږم
که نے نه وژنم سوزیږم — لوګے کیږم ایرے کیږم
لکه شمع بد نصیبه — لا به سوزم لا به مرمه
لا به خان تالا کومه — لا به تور دریاب لخمه
بس دے بس که لیونیه — داډ ولے ولے باب
جام که ډک سترګے که پټے — تنکوه دِ خوږ دباب
ور نزدے شه ور نزدے شه — چه دیار شونډے شکرے
روپه مینه مینه اوکړی — دوه خوږے خوږے خبرے
تورے سترګے بلیږی — لکه شمع د معراج
دغه سر و شونډ کښ اوږدے — اوږدے هم داور علاج
په سر و کو تو کښ جنت دے — که دوزخ دے که بقا ده
وی سوزه سوزه خانډ خانډ — ژاړه ژاړه دا دنیا ده

غنی
حیدرآباد جیل
۱۹۴۹ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آدم

عجیبه م وجود لا عجب م خکر
څه بے توکه بے توله دا سترے او سر
یا په بام دحرم د مستے ترانه
یا په شپه د وصال دنغلونو بهانه

یا موسی ته قصے دفرعون د محل
یا فرعون ته بیان د ابد د اجل
یا دغم د بی بی نه سرور غوښتل
بُت خانه کښ پرقونه د طور غوښتل

کله روح د مجنون او ساقی او پیاله
کله سُرد خیام او ژړا او صحرا
کله خوب د منصور د رنا د وصال
کله شوق د حبشی د کوکے او د خیال

کله دوب بے پایانه کوے دغم
کله هره پیاله کښ صنم صنم

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا د ژوند کا کوکښ د مرګ تصویر
یا د مرګ سلګو کښ د ژوند تعبیر
یا پیغام د فراق په خندا کښ دیار
یا امید د وصال په ژړا کښ دیار

یا د جیل کوټکی کښ خوبونه د کور
او ایرو کښ ارمان د رنا او د اور
دا بیخوده دماغ بے کماله وجود
پجاری د مندر او شوق د درود

هم غلام د بنایست هم مرئے د وفا
هم د رباب د تیرے هم مستی او د رنا
بے آرامه ارمان بے قراره نظر
څه بے توکه بے تولہ داستئے اوسر

یا په بام د حرم د مستئے ترانه
یا په شپه د وصال د نغلو نو بهانه

غنی
خان پور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه کیږی په عقل

سپین ولیبۍ دِ تاوکه ستوکے څنه ترِ جوړه کړه
قرض رنګ پرِ توی کړه قالین جوړ د خپله پوهه کړه

نه کیږی په عقل توکل غواړی د چړ سیانو
نشته دے کلونه په کوڅه کښ د ملیانو

دلته سنبانکو نه دی تالی دی رکیبئ دی
دلته شراب نشته پیکوړی اوزلوبئ دی

عقل له سرور کښ سړه عقل کښ کور نشته
د اخبرے ماته مِ رو رو کړے آبئ دی

مینه خو یو مینه وی نه سود وی اونه زیان
دلته په کچکول کښ خورے شوے نوابئ دی

لاړه دهونبیار په کنډو کنډو په درده
مینځ دلورے ژورے دے اودکه د اسرده

د اسے آواز کورئ چه نه زیږی اونه بهوی
خونبۍ رباب کښ خاموشی د مقبرو ده

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښ خوارله یالوړه اوصحـــراوو یامهارو

خـرد هوسۍ رورد ے خومین د ے په جوارو

کورد طمع څه دے تورمحل د بلا کانو دے

روح ناوے کول په ډولکی کښ دپیریانو دے

تش دکباب خوند له اسمٰعیل حلاول دی دا

مادا اوریدلے په کوخه کښ درندانو دے

زور او غـرور نه لری عشق صبر او ارمان دے

سُـر او سـر ورنه لری سرخان د ے او جهان دے

رحم نه انصاف دے یو تدبیر دے د دوام

هرڅوک نے پکار دے که خیټو دے که خیام۔

شـنک وی دنزد ے نه او ډولکے د لرے لرے

دواړه غږۍ یو شان اویو رنگے خبرے

ډک دظلمه زوره د طاقته د باز پرے

جوړے دمهین اوږنگین بوی دکل ورزے

کومه لاره چه اخلے خو مقام نے بس یو دے

دلته زړ جُماته دی امام نے بس یو دے

څکه لیونے دے مرورشی کـــله کله

بل خواته ورتاوکړی داد موښ تنقه شله

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پریوزی په پراو کړی بتخانه کښ دیوه بله
څپے سپینے پولئ طمع تاقتی د منزله

تاته اوږے سرور دے یومار ولے وژنے اوکښ؛
اے دسپین اوتور مالکه څه منزه ده تور کښ؛

ولے زمالال دی پروت په خُلے کښ د بنامار
ولے دے کلاب له نه اوربل اونه بهار

ولے دِ بندی که څاڅکے تن کښ د ډنډوکی
غواړے ترچپے دسیند سازونه د آبشار

ماله مرګ او ژوند دے تاله تشنه څښے ول دے
اوږکښ دے بل کړے ولے حُسن الول دے

اوږته دے بنولے یم فولاد جوړے زمانه
سنه چه زه فولاد شمه نوخه زما جانانه

جسټو فولاد وله جوهر وله کمال له
بس خاورے کیږ دی روکیږ دی د دُنیا نه

ولے دِ ورانو لولہ جوړ کړے سور محل دے؛
اوږکښ دے بل کړے ولے حُسن الول دے؛

د پیرۂ اسماعیل خان
۱۹۵۰ع

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختلافات

پلار م ورک په خپل وطن
زه د خپل وطن نه ورک

د هغه خوښ دے تعلیم
زما خوښ ساک د پالک

د هغه خوښ دی خوانان
تول د قام په جنګ روان

زما خوښ هر کلستان
هر چمن د لولو ډک

د هغه وطن جهان
دا بے نوره بیابان

زما ملک ښکلے آسمان
د نبیسته ستورونه ډک

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوبزه

چه شی خُله دخوبزو سپوړی — د دنیا خوابزه هسه

ئے ملام ملام یادیبزی — غونزاخی(*) او قتلمه

چه شی خیته پیره وبزے — د دنیا کُل خوراکونه

ئے په ستر کو کښ غږیبزی — سیخکی او کبابونه

چه شی ستر کے پیرے وبزے — د دنیا کلونه وارہ

ورته مخکښ مخکښ کیبزی — تورے زلفے سپینه غاړه

چه شی شونډے پیرے وبزے — د جهان هسه خوبانے

ورته وړاندے وړاندے کیبزی — سپینے تورے سمے ورانے

چه زړه کے د مینے سپورشی — تیرے نولے خوشحالے

پکښ د تنه رَپی رَپی — لکه ناوے په ډولے

او بزیم اوبزیم دا سے وبزے — په یوه کوکئ ورکومه

دا جهان او جنت دواړه — په دووسړو شونډو خرڅومه

کښینه کښینه لیونیه ! — دال خته وهه کوکارے

دا مزے د دی نصیب کښ — چه ته زوی دا سے پلارے

(*) شونزاخی : انجیر.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

آخر غله به دِ خوږې شي — کښېنه وايه کُړه کُړه
دَ قسمت غاخاوړنے کړې — را غوږې کښدے ته لوړه
که بهار کښې دې کلونه — نو میوے دې په خزان کښې
سبا دغه دے راوخوت — ستوړې ښکارې په آسمان کښې
سړه کلو نوشنو اوبوله — بیا به لاړ شے هشتنګرته
په نرتوب عزت به کورے — خوږه سترګو دَ دلبرته
بیا په غاړه دَ تلاؤ به — دَ سرو میوډک کړے جام
بیا به ګرزے په مالتو کښې — دَ سحر او دَ مابنام
بیا به او ترے په یوه — برګ اومست هندکی غوایان
بیا به سینے په جینډې کښې — مار مهئی اوسړه کبان

بیا به شور شغرب د ژوندی
دیارانو وشتے مستے
چپ چپ شه مخکښې مه ځه
ژړا را غله بَستے بَستے

غنی
حیدر آباد جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویش

باغ کښ څوک کلاب شی څوک شی سرے څوک ورخاړی
څوک د مینځ غنچه شی څوک کښل د غارے غارے
تاج دچاد زړو دَچا تاج شی دَ غمونو
ویش دَ بل په لاس دی که ته خاندے اوکه ژاړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دَغم لوُر

لنگه تیاره شوه رنا ئے راوړه
آدم چه مست شو حوا ئے راوړه

مرګ چه دخپل ژوند تالاش کښ دوت
ژوندون نے راوړ اوسا ئے راوړه

تورے چه چغه د کفر اوکړه
د هما لے پیدا کړه قلا ئے راوړه

چه او بنګ سره شو شراب تر جوړ شوو
چه غم با با شو خندا ئے راوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زور

خدائے چه پیدا کړ دځان نه زور
کړل نے ترے لاندے څیزونه نور

سرے اوچت کړ ترنیم آسمانه
بادشاه دهر څه وُ بے سره زور

الله موسکے شو حسن پیدا شو
طاقت په مزکه پریوت نسکور

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بُت

داشونډے سرے دکل غوټے — داشونډے سرے وړے وړے
داشونډے سرے قطرے ډناز — دا مجسم مکمل نیاز
تش او وچو زړګوټه دا — رنګ ، مستی او ارمان خوړی
ماباندې نه او خوږے لګی — ماته نقشے دجانان خوړی
داخوږوند ون مست شوبیا — مرګ پورے مسخرے کوی
داخو ګلاب خندا نه دے — بل پسرلی ته اسرے کوی
داخو د تور مرګی په مخ — رنګ او امید د دنیا خوړی
داخو د مجنون ستر ګوټه — خیشت او سینګار د الله خوړی
پوهے دِ مدوی د آدم په راز — پوئے په تللو د سوز او ساز
تولے قصے نے یادے دی — تولے قصے د راز ونیاز
دا د عیسیٰ د لاس په شان — ژوند او امید او خندا خوړی

"بت" وټه څنګه او وایمه
ماته چه نور او رنا خوړی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیژندګلو

هوښیار هغه وی چه ځان کښ خرتوب وینی
خر هغه وی چه خپل ځان ګڼی هوښیار
عاشق هغه وی چه طمع دځه نه کړه
په شرنګار په مخه ځی لکه آبشار
غوښ هغه وی چه له ځانه خبر نه وی
خو خبر وی له ژړا د غریب خوار
چه د قام د پاره دانګی اول اوږه
د هغه منم بریتونه ګونا، ه دار
غنی هغه دی چه سړی دے بے سره
کاله خر کاله نقلی کاله هوښیار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولے؟

کل له بنده خائشت ستر کوله پسته رنا
شونا په وکښ دا بیخودی شونا په وکښ نشه نشه
خیشت له دخپل خان پشان نور او سینګار او خمار
یار له دخندا په خاے سپین دسر ه کالو نو خار
مینے له د زور د سمندر زره د بادشاه ورکه
ساز لره آواز، اثر خائشت، تا د ثنا ورکه
ماله د غمونو ارمانونو جهان را کړه تا
ماله زړه کے پوست او مستانه او حیران را کړه تا
او ستر کے خمار د یار د حُسن د آرام د کے
کله د سپوږمئے د رنا کله د مانښام د کے
کله د خوانئے د امید نو د ارمان د کے
کله لیونے ستا د خمار او ستا د شان د کے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اے د دوزخونو قیامت او د حساب ربه
اے د تورو زلفو د لالونو د رباب ربه
اے د مستو سترګو د نرګس او د ګلاب ربه
اے د مینې حسن د ځوانۍ او د شباب ربه
اے د لولګې د ځسن اے د ګل د خیال ربه
اے د راز او نیاز او د نسیم او د هلال ربه

ولے دے د حسن نه
جوړکه دا د خاورو بنار
خیشت له د خپل ځان پشان
نور او سینګار او ځمار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

باچا

بادشاهی دجهان څه کے؛ ځان له وے زیاتے غم
دانصاف تلل مشکل دی څه به دپیر کړے څه به کم
خپل غمونه دِلالبر دی دجهان غمونه غوارے
دا سے تخت ببخه کړے څه چه پرشپه اوږدے ژارے
د تهوانو په سے له کښ غټ تهو مخکښ روان وی
لوئی باچا د ځنا ورو دهماؤ لوئے حیوان وی
دا دنیا دسپی لکئ ده نه نیغیږی نه سمیږی
په وجود تورہ پیشو ده چه ئے وینځے لاتوریږی
بادشاهی هله جوړیږی چه نیم لکی شی نیم مړه کړی
چه یوکس د بل په غوښو دخپل کور کوتری ماړه کړی
د د ے ژوندہ څه مطلب شو چه یا مړے یا به بل وژنے
دا میږه کلاب دِ څه شو باغ ساتے او بلبل وژنے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ربّه ماله که درا کړه بادشاهی دکل جهد ـ
زه به ئے وغورزوم له کوره لکه سوتے په ویران
دا یو دوه کړی ژوندون زه په جګړو نشم تیروله
ددے ظلم په کتوئے دے ربّه بل کیږده برغوله
ماله راکړه څو کلونه یو نیاز بین شانتے جانان
یو ورو کے غونډ باغ او په خوائے سیند روان
چه ئے زه په غاړه ناست یم په یخ سوری ډخروله
په مزه مزه لیکمه دمزے مزے غزله
کله سوال منت جانان ته کله بد او ردّ مُلا ته
دساغر ساقی صفت کوم دتهیږو ډک لاله ته
کله کله تا نه ربّه د ورو په شان کیله
کله تور جمدے (*) امید کله سوے اسویله
کله تنګ کله تکور کله جام کله دلبر
یو جهان کښ درنګ دوب دجهانه بے خبره
بادشاهی مغوله ورکه چه زغملے ئے شی زور
چه په لاس لکه قصاب وی په خصلت لکه منګور
چه خپل ځان ته شی کولے قربانی د زور د وینے
هم مفلوکے هم خوږے شی دغریب د غوښو پینے

(*) جمدے اوزندے .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج ور لے هغه سرشی — چه وژل لکه وباکړه
لکه پرانګ دا پل څیرل کړه — یرول لکه بلا کړه
تخت هم نه پائی بے زوره — بے دتورے د جلاّ ده
بادشاهان چه خورد وی — دومره وی دنیا برباده
لوی بادشاه وی لویه ژوره — دے په وینو زوو پائی
بادشاهی لکه د اور — په روتو په سوو پائی
ربّه فضل په مونږ اوکه — مونږ ساته ددے آفته
چرته غټ خرته په شاکه — دا دسرولا لونو کته

سفارش ورته دا وکه
صیبَ زمونږه د بابته
وے پام کوه ! دلهخره
غنی ونه وے (*) په لته

حیدرآباد جیل

(*) وے : وی .

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوزخ

د آدم د نظر تول دے — که دا تور دے که داسپین
د آدم د زړے خیال دے — دا سپلمۍ او انګبین
دا آواز زما د کوتو — پوست مړوند ننګے ګهین
دا زما د ځګر لوبے — ګل اندام مه اوشیرین
دا زما خودے جور کړے — دا وبو شراب رنګین
چاله نجر د شرابو — یو قطره ده د زمزم
چاله نجر د زمزم دے — یو غمګین ما بنام د غم
چاته روکے سپینه شمع — د سپوږمۍ نمره روښانه
څوک پیغام د جبریل واوري — د سرو شونډو ده جانانه
چاته سور په وینو تاج شو — چاته تور په تیرو تخت
چا په سر د صلیب ولید — چا په سور ریښمین بالښت
د موسیٰ پشان څوک سئ کړي — په مړیت کښ مخ د یار
څوک تر ے جور پیره ژړا کړي — څوک تر حسن او خمار
څوک د کل د ماشوم مخه — د آشنا شونډے کړي جوړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا په خوا دنرګس ومنت — چا ازغوکښ دګرورے
خموش نصیبه څوک ولاړه — په خندا غیږ ے دیاړه
چاډ ناوے دجورے نه — کفن اوشلوو دلدارله
ربّه : ربّه ! زما ربّه! — لیونے شوم په فکرونو
څنګه خورقهر اوغضب کړم — په سپرلی اوسره ګلونو
څنګه غوږ کیدم مُلاته — تورانے بلبله هیره
څنګه ستا دنورا وخیشت نه — بد رنګی تیاره چاپیره
دَ خندا دَ سپین سبا نه — تورما بنام اولحد جورکړم ؟
دَ انسان د مایوسئ نه — سُهسرورد ابد جورکړم؛
دَ فقیر دَ تلوسو نه — د بادشاه خمارکړم جور؟
دَ دوزخ د اور اوزور نه — ستاخایشت سینکارکړم جور؟
څنګه ومنم تاجور که — داجهان اوآسمان دے له!
چه خیام روان په زورکړے — طوفانونو دَ کیږے له!
دَ مستئ دا دومره ډک زړه — بس پیداؤ وسوے له ؛
جورد حسن یا رانه کړه — دجزاسزا قیصے له ؛
تاکړه جورد خپل خایشت نه — یوحسین یو نازنین
ستادَ بنکته بهنو سوے — هرما بنام پوست اورګین
تاخندل چه دګلاب رنګ — دَلولګے وزر یوړه

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په لاس د خیام په جام کښ — بې خودی او د لبر یو ره

څنګه غم غنی له ورکړم؟ — د قیامت او حساب نو

کړکه زړه کښ د بلبلے — د سپرلی او د ګلونو

څنګه شال دوینزے خوکړم — د لیلیٰ په سپین جبین

د حبشی د عشق لیوالہ — بنا پیرے کړم د ماچین

څنګه لاس کښ محبوبالہ — خنجر ورکړم د غماز؟

څنګ دیر کوی کښ دوبکم؟ — د مینو ستر کو راز

څنګ جهان د حسن دوبکم؟ — په یو څاڅکی د تیر و کښ

او د شمع رنا څنګه — کړم بدله په ایرو کښ

ربّه! ربّه! زما ربّه!

لیونے شوم په فکرونو

څنګه خیر ته غضب کړم

په سپرلی او سر و ګلونو

خانپور خیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیونی

یو بنبار ے روان کړے د نړۍ نړۍ کو خوږ ے
یو خیال ے روان کړے د زړ ګی د تلو سو ږ ے
یو سُر ے روان کړے تکے سوز او تکے ساز
یو عشق د حقیقت جوړ د عشقونو د مجاز

یو کور ے روان کړے د خوبونو د رنګونو
د تورو تهټرینو کړ نګیدونکو سُرنګونو
او خاندی لیونی ستړے ږکے د مستونه
وحدت ے روان کړی د لکها بُت پرستونه

او کله لیونتوب فلسفه کل او صنم وانی
او کله د مستۍ خبرے د پیرے په غم وانی
سړے پا ے نه کل غوړ ی مخ د شبنم پرے پتوی
او ربل مست خوږ وی د ستړ کو غم پرے پتوی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه

زه یم زه یم رنګ سهر د اوړو شرنګار زه یم
د جانان ستر کو کښ مړاوے خمار زه یم

دا تعبیر زما د مست زړه د تالاش دے
یار زما د زړه ارمان دے دلدار زه یم

دا زما زړه چه د خیشت اورنګ شی وږے
سپرلے سره کلونه راشی بهار زه یم

دا چه زه شم د مسکو شوند و لیسو الله
لیلیٰ جوړه کړم د حسن معمار زه یم

دا خوزه د خکر سوز په هوا سور کړم
روح، مطلب، معنیٰ، آواز، دستار زه یم

چه زه نه یم بے معنیٰ جنت آسمان دے
د جهان د سوز او مینے مختار زه یم

دومره پوی شوم په دے دروکی غوندِ ژوند کښ
یار زما کمال، کمال د دلدار زه یم

خانبور جیل

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوښن

لکئے دِ دَخر چوکی اوغړانګه دِ د بتے
کوږ وو ږ اوودان ویجاړ او دولس نیم ګزه اوچتے
په غوږ وکښ عرب ئے او په شونډو کښ حبش
که پاوړم څوک دراچې، ورته ته شغه اخلتے
دیږ زیات بے نوره بنکاری ستا په پوزه کښ مهار
دے دومره اوچت سړکښ د پستے نیستے زنار
نصیب کښ دِ چنه شته نه اور بشے نه شلتے
بس لونے دراته باروته، کجاوے تغړے کتے
ستاسترګے د شاعر دی تله دلچک دنواب
په شکل معتبر، معقول ملګے د نیستے
خندا دِ زړه کښ نشته په سپیرو دِ تل خوله توره
بورا په هغه وخ شوچه پیدا شوے ته دمورډ
مستی وچه بے نوره او خوانی دِ بے سروړه
غوږ وونه د نیلی، تش د نیلی د خیال غړوړه
اوږے دے خپے دِ د په نیک د توپ او تله بے خبره
دَ قبر په شان ملا دِ د سړکی په شان مجبوره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته تول ناکام ناکام ئے نه رنگ و بینے نه خمار
همت او جوش دِ نشته کړ خه او بے تږ مے خوار

په خیته دِ حان ورکه خکه ډوب سپک او دوو شو
مین په پیکوړے شوے خکه پاتے د جلوس شو

جنون خندا دِ ورکړه د زوزانو په بدل کښ
د حُسن بادشاهے کښ د څوندون ویړے جاسوس شو

تا خیشت دارمان ورکړ بلا رنګی کښ د ژوندون
تا ورکړه په تیپرو فلسفه د افلاطون

ته دورشو د خوږ پرے دِ نبوه رودی دازمری
تا غږ د موسیٰ ورکړو په کوخه د سامری

تا لے دیزید وینے وینے نه مرګ د حُسین
په ژبه دِ شراب تراخه خوا بده لګی تری

ته نن په سبا نه ور کے ته نه ئے جوار کړ
دا خکه مهار تیت کړ، ستا د تولو اوچت یم

اے اوښه غټه اوښه، ته ئے روکے د میږی نه
لس چنډ که زمے شے، خو یږے دلږ کی نه

تر هغے به یږے، او ژړیږے او کړیږے
تر کومه چه ونه باسے دِ طمع د زړ کی نه

دے طمع ستا نه پیر اوچت سر ونه کړ را ښکته
د سپینے شهزاد ګئے په سر خوږے د ډ مے کته

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

داطمع مړے اوښے کاندی ستړکے نړے نړے
داطمع خرڅوی بازارکښ شونډانے کړے کړے
داطمع شهزاده کاندی غلام دکوردَ وینړے
داطمع دجنّت حورے له ستړکے کړی بے شړے
داطمع شهزادګئ کړی دمرئی سړه نوکره
دا دیرغمی هیرے کړی، کړی کونجکه ترے نه بره
داجوړه دعقابه کړی د تور کوی کمتره
دازړه نه غم راغونډ کړی اوخندا خوانی دسړه
داجوړه دکعبے نه کړی منډی دسود اوزیان
داګل خاورے ایرے کړی مستی یوسی دَعنبره
داجوړ کړی دعیسئ نه مقتدی دسامری
دَدے په څپو خور کړی نظر ونه دلبری
اے اوښه خواره اوښه بے بنائسته بے جماله
اے اوښے دَزوزانو بے خبره دَکماله
تړلے لوبه اوتاړه نه سرور ے اونه ساز
هم دغه دے دادنیں اود آدم دفراق راز

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکے

مرکے دِ راشی
چه کلمه ئے وس وی
کل به م لاس کښ وی
او یا به اَس وی
یا به توپک وی
یا به قلم وی
دوب به خندا کښ
دَدنیا غم وی
چه څه موبخت وی
دومره به بس وی
مرکے دِ راشی
چه کلمه ئے وس وی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

کمتره

دجنت مرغئ کمتره — دغم درده بے خبره
که سپرلے وی که خزان — ستاوی مستے بازیگره
شپه اوورځ په بقبقور — د آشنا په نداره
دیارہ مستے قصے کړے — د جمات په مناره
دوه دانے کړے چرته پوټه — بیا مستی غوږے شوه کړے
د پیر یانو په کوهی کښ — لمغړے دښا پیرو کړے
اے د مینے لیو نیه: — بے گناه او بے آزاره
دمحراب دپاسه تاخ کښ — کوکئے اخلے د دلداره
خپے د هر ډکے سرے وی — هره ورځ په تا اختر دے
تل نشه نے بے شرابو — مدام خواکښ د دلبر دے
خوش قسمته بے خبره — د دوزخ نه د مُلا نه
د نیکو د ثوابونو — د شرمونو د کنا نه
ده کوکولہ جوړه شوے — ستا صنبوکه بے آزاده
ستا سره سره نړی نوکونه — د ک دخیشت او سینگاره

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه دِ جنګ نه دِ غم بشته سوچه مینه بے نفرته
نه دِ چل نه دِ دوکه شته یاری پاکه بے علته
الوته دِ هم دسیل دی دمستی د بازیګرو
که باندا شے هم پینے کړے د وړو کوتوتکو
غونډ ستر کے دِ معصومے د رښا اتباره ډکے
پیمانے دسرو شرابو د خندا دیاره ډکے

کاش چه زه هم ستا په شان
اے کمتره مستانه وے
چه نه غم وے نه ارمان وے
بس خندا او یارانه وے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

باویړے

بیا شروع شولے په ما دَ غم چپے
بیا بے خوبه بے آرامه مے شوے شپے

یو خوا رند یو خوا ساقی یو خوا شراب
بل خوا کوت کښ زاهد او دی تسپے

په لوګی دهغه او دواړه تو دیږی
چه عالم ئے کړ جلیا تپے تپے

غنّی څوبه د ارمان په لمبو سوزے
څوبه وی دا د فراق سړے تپے

د خوانئ اختر دے لاړ نکړیږے څه کړے
شنه به وی چه په دیوال ئے وُتپے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

میرے

اوږد کاروان ستا — کرم روان وی
سم په قطار قطار — لکه اوښان وی
په هله هله — په مندې مندې
نمر درله اوسوه — لښته برښته
لکه د سپی هسې — خُله کښې اوړل کړې
او د پلټنې په شان — په پریت تلل کړې
د مرمتی په شان — هم غل هم نرۍ
په حکم کلک روان — د خپل افسرۍ
د خپل نظام تابع — لکه انګریزۍ
په زړه مضبوط مړۍ — لکه چنګیزۍ
ملا لچکدار ه نرۍ — لکه لښتۍ لرې
خُله د کلهانګ هسې — خپې پټ پټۍ لرې
وجود د درے بنده — اوشپږ د خپلې دی
نرۍ نرو چې دی — کړے وړے دی

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولاس دیو نشته — دا عجیبه ده
څه بے توله غوندِ — دِ معامله ده
د پیدا کولو آفت — د جمع کولو بلا
لکه د شوم خنبوے — زمکه کښ واړه دنیا
په هیڅ هیله نه کړے — لږم خوړے مارخوړے
ته د مچو په ښیرو — ترسکون اچار خوړے
د سبا فکر کوے — نوے فاسفی ئے
مستی خندانه کے — پخر صوفی نے
یو قدم نه اخلے — ته بے غرضه
رب دِ مونږ وساتی — د دے مرضه
بس دخوراک له غمه — لیونے کړے ملام
ته نے د حرص بنده — ته نے د خپلے غلام
ستا طبیعت د قارون — د خزانو شوقی
مین په هره میوه — د هندوانو شوقی
دا سے په دوړو زغلے — لکه بگی
اچے د چرکے هسے — سپینے اگی
دیر استکارے ته — خولا مبو کښ نه وے
په سر زمری ورځے — ژوندے ملخ نه وے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکل جهان صفائی ستا به تمکه ده
ستا نوکری په ماچین په امریک
اوږے اوږے هـزر پشکال
ستا دغه لاروی او دغه خیال
دَ پیدایښنه واخله تر دَ مرګی
تل دغت پناه لاندِ کوے زویرګی
نه دِ پوره کړه او نه ته موږ پشوے
اوږے پیدا اوے او اوږے زوږ پشوے
تاکښ خبرے پیرے دی زما خوښے
خو هیڅ مستی نه کے په زړګی یخے
بس منا ومنا نے تُل اوګاڼه کے
بے دخو لوخکلو بله سودا نه کے
خو زما خوښ نے په دے نړۍ بهادر نے ته

په ماچک مه لګوه
که زما یارے
الله دِ درکړے
دانے بسیارے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وصیّت

کہ خازئے شنے م پہ قبروی ولارے
کہ غلام مرۇم راځئ توکرئ پرے لارے
کہ پخپلو وینونہ ووم لمبیدلے
پہ مامہ پلیتوئ دجمات غارے
چہ قطرے قطرے م نوح دد بشمن نہ کا
مورے ما پسے پہ کوم فخ بہ تہ ژارے
یا بہ دا ئے ننگہ ملک باغ عدن کرم
یا بہ کرم د پښتنو کوشے ویجارے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشے

د مانبامه ترسبا — سرینده کاله سرنا
پینه پینه پنکه پنکه — هم خوږل کړے هم وینا
سپک به وخیږے په تول — دوو ډانو سره غوښتو
خوماتی ستا د کګذاره — خان کړی پټ په خټو بوختو
پچکاری دِ ئی تل وکه — وئے هر چاله اخکشن
ته به وئے ستا باباجی وو — دنو بار سِول سرجن
د میږی هوډ کوپئ کښ — دِم خُله شته هم خرتم
اوږے د خپے دِ د جولادی — نرچوکی وزر د دوم
اوږه ده دونګه د پنبے — بلد دِ نشته په لاشه کښ
واړه زهر دِ دا غوندو دی — د وکیل په شان چا خوکښ
نور همه غله د جهان — وی د مال د فصل غله
ته زما د ژوند وئے غمے — زما وینه ستا خواړه
په زړه سخت ئے دیزیدے — د کلاب په شان د ورکے
سر تر خپو سوړے سوړ کړے — هر سوړی کښ آفت پر کے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

چه زه راشمه ستو مانه — په کټ پریږدم بې اختیاره
ته به وې تاته غوږ سے چا — د پولاؤ کینبوه تیاره
تک م اوباسے دغوږه — پوست بالښت ته رسیدلکښ
بیا تمری خپله شوکړه — په نرو نرو پردو کښ
ستا په طمع گذاروکړم — څان له ست او سوزومه
ته م شانته سرښیدوے — زه غوږ ونه کړومه
که ریښتین شان مانبام دی — سور گلزار او شین چمن دی
چه یاران اوده په ولینبه — نشه شوی په دیدن دی
په سر خپو دلیلی کیږدے — پلیت وږے د سپی دارہ
لیلیٰ وخ او ویښ شوکړی — خوار مجنون پریږدی ولاړ
که څوک پټ شی په څادر کښ — ته نے پاس کړے پنکه پنکه
چه آخوټے پوزه راوزی — لکه شکون د څپل سر نکه
ته پے شغ شے دا پریږدے — لکه باز گینی په زړه کے
هله نے پریږدے په قلاره — چه جدا ترے نه استر کے
بنديان کوے ویرو کی څکړے — هر څښتانه په ازار دی
غوان سناړ کان مینبے آسونه — دلکو مالو بے آزار دی
رد کے خاشکے د دونخ نے — که د شرافت مخ ترے
څله زما په وینو سره کړے — بیا پے وے راته سناړے

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی ملا بابا چه ستایو — قرنیکه په پاپوښل

د نمرود سپیږمه کښ لاړ — غلے غلے په چال وَل

هغه اور غږیل په زمکه — کلک ئے ونیوله تشی

چه شوغ ئے په یو خُل کړه — هم تیزونه هم انتوشی

خوکړے دننه ناست دو — دقول به ئے وزړ

هله ئے پریښودچه ئے وښکه — دَغریب نه کچومړ

حرامتوب کښ دشک څه شو — چه دَدغے بابا زوے ئے

چلولی لکه لومبړے — اوبه سر کے لکه سپے ئے

لایوه بله خبره دے — دهماؤ ده عجبه

څان سره کړے په بله — نبه توده دمنی تبه

دا دعا دَ لیونی ده

پاکه ربّه که قبلے

که دا بنکے په واړوماشو

تیزه سړه دمه (*) پسیلے

(*) هر: اهار.

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیرے

ویرہ پیرے دے — امید رنہا دہ
د شک تیارہ کښ — ویرہ بلا دہ
کہ جوړیدہ دی — کہ ورانیدہ دی
کاروان روان دے — د لارے تلہ دی
ویرہ تیارہ دہ — او ورکیدہ دی
امید ژوندون دی — امید لیدہ دی
دِ وے ویرہ کفر دِ — خدائے نہ منلے دی
یوتور دریاب کښ — غوپہ وہلے دی
لمبے د روح — لوکے کیدلے دی
پہ ژوندون کورتہ — ورکہ وزیدلے دی
امید ہستی دہ — امید بقا دہ

ویرہ پیرے دے

ویرہ بلا دہ

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَس بَدُو

ترپ ئے دھوسئ پہ شان — زرہ ئے دزمری وو
رنگ ئے دغمی پہ شان — خیال دبنا ییری وو
سترگے دکور کورے — غوندے غوندے بشکلے بشکلے
تلہ ئے د نرانو — طبیعت ئے د بلبلے
تن ئے د طاقت اودَستی — اودَ نرانے ډک
روح ئے دھمتہ و — خُیکرئے دمرانے ډک
خپوکښ ئے کڑا وہ — د ساقی دسپینو خپو پہ شان
سترگو کښ غمونہ — امیدونہ دھوسو پہ شان
زرہ ئے د پښتون ودنہ — پہ کندہ نہ پہ غرایسار
جوش ئے دغازی وونہ — پہ ځان او پہ سرایسار
چپہ خُلہ اَشنا زما — لاړہ ے چرتہ لاړے تہ
چرتہ دچاکورکښ ئے — چانہ وبی غوارے تہ
شتہ ھغہ دنیاکښ سہ — نوکر د دِ لاور پہ شان
شتہ ھغہ دنیاکښ واسہ — شہ د ھشتنگر پہ شان
چپہ خُلہ اَشنا زما — چپہ خولہ وے تول عمر

---

(۱) بدو : زما عربی آس وو۔ دِلاور ئے سائیس وو۔

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه چه زه نن لمے وے تل — اوه چه ته وے تول عمر

دغه وو آشنا زما — دغه وه د ژوند قصه

دغه د آدم وجود — دغه د سمندر قصه

تړپ شو او تهپونه شو — خوب شو او خوبونه شو

دوه دمستی درځے شوے — دوه د غم کابونه شو

نه نے د راتلو سبب — نه نے شته د تلو علاج

نه نے د ژړیدو دوا — نے د ولولو علاج

نه نے د کمولو بند — نه نے د زیاتولو شان

نه نے د هیر ولو تاب — نه نے د لیدلو شان

نه نے د سلګو تپوس — نه نے د خندا وجه

نه نے د پرون سبب — نه نے د سبا وجه

اے مسته آشنا زما — لاړے چرته لاړے ته؟

چرته د چا کور کښ نے؟ — چا نه وړی غوا ړے ته؟

څوک به نوالے درکی؟

څوک به کوی ستا مدار؟

کوم جهان کښ الوزی

ستا د مستو خپو غبار

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library



پلوشه

هندوستان کښې دوو تونو منډے راغلے
په کښې خلق خرڅوی ایمان په څټو
بابا وے: غنۍ: سړے شه جیل ته لاړشه
غنۍ وے بابالنډے نه دے ډختو

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

قارغه

تور دِ مخ دے غل چکیه — تور دِ زړه تور دِ آواز دے
سپے ئے خیته دکول بس — ستا انجام اوستا آغاز دے
چا تور ے که دماستو وی — که د بچے د کچالانو
که پولاو دخان لاله وی — وظیفه د ملیانو
ستا په هر څه کښ حصه ده — تول جائداد دے ستا دپلار
یا تونکے وَئے یا تغیږے — نه آرام کړے نه قرار
غل هم غل ئے بے غیرته — د پوتی چرکوتی غله
نه دِ پرک شته نه دِلته — ډک دشوره د چلوله
موتے خیته کښ دِ پروت — د نړ د حرص تهترین دے
نه ډکیږی نه یخیږی — عجیبه درکښ مشین دے
که دسوتو سخا دیران وی — که اکئ وی دکرکوړے
که بچے د تورانئ وی — که وی سخا مردار کپوړے
که غریب وی که ماشوم وی — که حلال وی که حرام
ورته ستاکیه کښ درد وی — که سحر وی که مابنام

A .S.K B

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل مارغه کښې دومړۍ پوهه — دومړه چل او هنر نشته
خو افسوس قارغه په تاکښې — د عقاب سره وزر نشته
تش په چل سردار نشې — د سړو نه د مارغانو
دا په مینه مستي کیږي — په مور زړه د لیونیانو
ستا تغار د سپي کونګار دے — یوه چغه ده د لوبې دے
د بلبل په شان نه ئے — د شبنم د څاڅکي تږے
په هنر که سامري شے — په حکمت باندے لقمان
تل به خورے چیچې اوسوتے — اے جوړیه د آسمان
سره کلونه د لوئی دی — شپږ کمرے دی د کرۍ
یخ سحر د تورانۍ دے — ما خیګر د تو تکرۍ
ستا حصه ده دغه سوتے — دغه شور او دغه منډے
دا کنځل د خدمتګارو — دغه چغې دغه غونډے

څه که تیز لکه وکیل ئے
خپله وائے د بل ناوړے
په مارغانو کښې چوړے ئے
که وزرونه د رب خاوړے

A .S.K B

